رواداری
RAWADARI

# په ۲۰۲۴ کال کې
# په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت

مارچ ۲۰۲۵



رواداري یو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختیا، حساب ورکوونې، او د قرباني محوره عدالت د کلتور د تامینولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پریتوب د اصل په بشپړ رعایت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شویو نړیوالو اصولو او معیارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د پیښې، څرنګه چې پېښې شوې دي، په ریښتینولۍ خپروي.

# د مطالبــو لړلیــک


سریزه ۳

د معلوماتو راټولولو کړنلاره ۴

اطلاعاتو ته د لاسرسي محدودیتونه ۴

لومړۍ برخه- د مدني او سیاسي حقونو نقض ۶

د ژوند د حق نقض ۷

الف - د هدفي انفجاري او ځانمرګو بریدونو له امله پېښه شوې مرګ ژوبله ۷

ب - د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې انفجاري موادو د چاودنې له امله رامنځته شوې مرګ ژوبله ۸

ج - هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې ۹

د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو عاملان ۹

۱ - د مخکني حکومت د کارکوونکو هدفي وژنې ۱۰

۲ - له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د ملکي وګړو وژنه ۱۱

۳ - د نورو ملکي هیوادوالو مرموزې او له محاکمې پرته وژنې ۱۲

اجباري تري تم کول ۱۳

خپلسرې او غیرقانوني نیونې ۱۴

الف - د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلسرې نیونې ۱۶

ب - د مدني فعالانو او د بشر حقونو د مدافعینو خپلسرې نیونې ۱۷

ج - د طالبانو له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د خلکو خپلسرې نیونې ۱۷

د - د خپلسرو او غیرقانوني نیونو نور موارد ۱۸

د هیوادوالود آزادۍ او شخصي امنیت پر حق د «امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون» اغېزې ۱۸

د انساني کرامت د حق نقض ۲۰

د بندیانو شکنجه او ربړول او ورسره ناوړه چلند ۲۰

د ناوړه چلند او شکنجې عامې طریقې ۲۰

د بندیانو وژل ۲۲

له خوشې کېدو وروسته د بندیانو ځورول ۲۳

د طالبانو د زندانونو د څارنې د میکانیزم نشتوالی ۲۴

د ښځينه زندانونو ستونزې ۲۴
د ظالمانه او غیرانساني مجازاتو پلي کول ۲۵
د سوله ييزو راټولېدنو ځپل ۲۶

دويمه برخه- د ښځو حقوق بشري وضعيت ۲۷
د تعليم پر حق د محدوديتونو سختېدل ۲۸
د کار له حق څخه د محروميت دوام ۲۹
روغتيايي خدمتونو ته محدود لاسرسی ۳۰
د آزاد تگ راتگ د حق نقض ۳۳
عدالت ته د لاسرسي نشتوالی ۳۵
الف- د طالبانو په عدلي او قضايي بنسټونو کې ښځو سره د تاوتريخوالي قربانيانو سره ناوړه چلند ۳۵
د ښځو د ميراث حق ته د رسېدنې لپاره د يو ډول طريقې نشتوالی ۳۶

درېيمه برخه – د متضررو قومي او مذهبي ډلو وضعيت ۳۷
پر قومي او مذهبي اقليتونو هدفي بريدونه ۳۸
د دولتي خدماتو په وړاندې کولو کې له قومي او مذهبي ډلو سره تبعيض ۳۸
په گمارنه کې توپيرې چلند ۳۹
پر مذهبي آزاديو د محدوديت پلي کول ۴۰

څلورمه برخه- پايله او وړانديزونه ۴۲
پايله ۴۳
وړانديزونه ۴۴

# سـريــزه

**ترلاسه شوي شواهد او اطلاعات ښيي چې د هدفي، انفجاري او ځانمرګو بريدونو د شمېر کمېدو سره سره، چې له امله يې په ۲۰۲۴ کال کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله کمه شوې؛ په دې کال کې د تېر ۲۰۲۳ کال په پرتله د ژوند د حق د نقض ډېرې بېې د پام وړ زياتې شوې دي. لکه د طالبانو له مخالفو ډلو سره په همکارۍ د تورنو کسانو هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې دوه چنده شوي دي، اجباري ترې تم کول ۷۰ فيصده، په قتل تمامې شوې شکنجې ۲۵ فيصده او خپلسرې او غيرقانوني نيونې ۴۲ فيصده زياتې شوې دي.**

له بل پلوه، د دې راپور موندنې ښيي چې د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنيو غړي لا هم له خپلسرو نيونو، شکنجو، وژنو او اجباري ترې تم کولو سره مخامخ ؤ. په ۲۰۲۴ کال کې د مخکني حکومت د کارکوونکو هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې ۹ سلنه زياتې شوې دي، او د دې کسانو خپلسرې او غيرقانوني نيونې شاوخوا ۲۰ سلنه زياتې شوې دي.

د حاکمې ډلې د تو‌پيرې او سختو سياستونو د دوام له امله او په ځانګړې ډول «د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون» له خپرېدو وروسته، چې طالبان يې په ديني توجيه او له تاوتريخوالي څخه په استفادې پلي کوي، د ښځو د بشري حقونو وضعيت هم په بېلابېلو برخو کې لا ترينګلی شوی دی. د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د ياد قانون پلي کولو د هيواد د ښځو او نجونو د ژوند پر ټولو اړخونو سيورى غوړولی، او د تعليم له حق څخه د هغوی د بشپړ محروميت او روغتيايي خدمتونو ته په لاسرسي، آزاد تګ راتګ او عدالت ته په لاسرسي کې له ښځو سره د تبعيض د سختوالي سبب شوی دی. هغه وضعيت چې کولای شي د جنسيتي تعذيب او بشريت ضد جنايت وګڼل شي.

هم مهاله، قومي او مذهبي لږکي په دې موده کې په قصدي ډول له دولتي خدماتو، بشرپالو مرستو او ملي سرچينو او امکاناتو څخه محروم کړای شوي دي. طالبانو همدا راز په هغو تصميم نيونو کې چې د لږکيو پر برخليک اغېز لري د لږکيو د ګډون زمينې له منځه وړې دي او په دې ترتيب يې د ايډيولوژيکو، مذهبي او قومي معيارونو پر بنسټ د دولتي ادارو د کارکوونکو په ګمارلو او ګوښه کولو کې عمل کړی دی. سربېره پر دې، معلومات ښيي چې د ۲۰۲۴ کال په بهير کې د بېلابېلو افکارو او عقايدو په ځپلو سره، مذهبي آزادۍ هم سختې محدودې شوې دي.

په ۲۰۲۴ کال کې په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعيت لا خرابېدل، د بشر حقونو په هغو بين المللي اسنادو کې د راغليو مفادو او مقرراتو د درناوي لپاره د طالبانو د نه ژمنتيا ښکارندويي کوي چې افغانستان ورسره تړلی دی. پر همدې بنسټ، شته ننګونو او ستونزو ته رسېدل، د ځواب ورکولو او حساب ورکولو د ټولو ميکانيزمونو کارول ښه والی او د نړيوالې ټولنې له خوا د  نورو وقايوي او ملاتړيزو تدابيرو نيول غواړي.

## د معلوماتو راټولولو کړنلاره

په دغه راپور کې راغلي اطلاعات د ۲۰۲۴ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د ډسامبر تر ۳۱مې پېښې په ځان کې رانغاړي، چې دا اطلاعات د رواداري له خوا په میاشتني ډول راټول شوي او ثبت شوي دي. د رواداري څارونکو د بشر حقونو د نقض د بېلابېلو پېښو اړوند د معلوماتو او شواهدو راټولولو لپاره له پوښتنپاڼو څخه ګټه اخستې او د کال په اوږدو کې یې د قربانیانو، عیني شاهدانو او د قربانیانو د کورنیو د غړو له ډېر شمېر سیمه ییزو سرچینو سره د افغانستان په ۳۰ ولایتونو[1] کې په حضوري یا ټلفوني ډول مرکې ترسره کړې دي. خبریالان، مدني فعالان او د بشر حقونو مدافعان، مدافع وکیلان، د دولتي ادارو کارکوونکي، د تعلیمي او روغتیایي بنسټونو کارکوونکي، د ملي او بین المللي اړوندو سازمانونو کارکوونکي او ټولنیز با نفوذه کسان نورې هغه سرچینې دي چې رواداري د معلوماتو راټولولو او د اړتیا وړ معلوماتو پرتله کولو لپاره په پرله پسې توګه ورسره مرکې کړې دي.

د پام وړ اصولو له رعایت څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه او ورپسې د معلوماتو اعتبار او د معلوماتو او مرکو د راټولولو پروسه د تحقیق د مرکزي ټیم تر نظر لاندې سر ته رسېدلې. سربېره پر دې، په دې راپور کې د موندنو او اطلاعاتو لویه برخه چې د مدني او سیاسي حقونو، د ښځو د حقونو او قومي او مذهبي اقلیتونو پر حقونو بحث کوي، په مستقیم ډول د معتبرو سرچینو له خوا ترلاسه شوې ده. هغه قضیې چې د اعتبار اړوند کافي شواهد یې نه دي ترلاسه شوي، په دې راپور کې نه دي راغلې.

سربېره پر دې، فرمانونه، احکام، غږیز، تصویري او کتبي اسناد چې په تېر یو کال موده کې د طالبانو له خوا خپاره شوي او رواداري ته په لاس ورغلي، نورې هغه سرچینې دي چې په دې راپور کې ترې ګټه اخستل شوې. همدا راز، د رواداري له مخکنیو راپورونو او د بشر حقونو د نورو سازمانونو له موندنو څخه هم په دې راپور کې ګټه اخستل شوې ده.

د بشر حقونو د نقض د شمېرو تفصیل او دقیق جزیات چې د دې راپور په بېلابېلو برخو کې مطرح شوي، د رواداري له خوا ثبت او خوندي شوي دي؛ خو د هرې برخې لپاره یواځې د غوره بېلګو په راوړلو بسنه شوې ده. سربېره پر دې، په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعیت د یو روښانه تصویر او واضح درک وړاندې کولو لپاره، د ۲۰۲۴ کال د راپور موندنې د ۲۰۲۳ کال له موندنو سره پرتله شوې دي.

همدا راز، د مرکه شویو له امنیت او خوندیتوب څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره له جزئیاتو، نېټې او د بشر حقونو د نقض د یو شمېر پېښو د دقیق ځای له ښودلو په قصدي توګه ډډه شوې ده.

## اطلاعاتو ته د لاسرسي محدودیتونه

دا چې طالبانو اطلاعاتو ته پر لاسرسي سخت شرایط وضعه کړي دي؛ د دې راپور د اړتیا وړ اطلاعاتو راټولول او په ځانګړي ډول د بشر حقونو د نقض د پېښو مستندول او په مشخص ډول د هدفي او له محاکمې پرته وژنو، شکنجو، د بندیانو د وژلو او د اجباري تري تم کولو مستندول سخت او له ننګونو ډک کار و. څکه طالبان د دا ډول اطلاعاتو د پټولو لپاره له بېلابېلو ابزارو څخه کار اخلي، لکه له قربانیانو څخه کتبي ضمانت اخیستل او هغوی قسم خوړلو ته اړېستل چې د خپلو تجربو په اړه به خبرې نه کوي، وېرول او حتا د قربانیانو او د هغوی د کورنیو تهدیدول.

ترلاسه شوي شواهد ښیي چې بندیان او د شکنجې قربانیان د کتبي تعهد په ورکولو، دا چې د خپلو تجربو په اړه به معلومات نه شریکوي، له بنده خوشې کېږي. په ډېری مواردو کې، طالبانو هغوی په بیا نیولو او سزا ورکولو تهدید کړي دي. په همدې دلیل له بنده خوشې شوي کسان او د شکنجې قربانیان د غچ اخستنې او د خپلې کورنۍ لپاره د امنیتي عواقبو له وېرې رسنیو او بشري حقونو بسنټونو سره له هر ډول معلوماتو شریکولو ډډه کوي.

**له بل پلوه، طالبان د بشري حقوق او څارونکو سازمانونو ته تر خپل کنټرول لاندې زندانونو او د آزادۍ د سلب ځایونو ته د لاسرسي اجازه نه ورکوي، او هم یې د ادارو ټولو کارکوونکو ته خبرداری ورکړی چې په خپلسري ډول د اطلاعاتو د خپرولو په صورت کې به له دندو ګوښه او مجازات شي.**

د استخباراتو اداره په ټول هیواد کې د وګړو فعالیت او په ځانګړي ډول مدني فعالان، خبریالان، رسنۍ، د بشر حقونو مدافعان، ښوونیز بنسټونه، مدافع وکیلان او روغتیایي مرکزونه څاري او هر ډول انتقادونه او د دوی پر سیاستونونو نیوکې له تاوتریخوالي په ډکو لارو چارو ځپي.

هم مهاله، طالبانو د ۲۰۲۴ په اوږدو کې د ۲۰۲۳ کال په پرتله د خبریالانو او سیمه ییزو رسنیو د کار پر وړاندې سخت محدودیتونه او شرایط رامنځته کړي دي. لکه، دا مهال سیمه ییزې رسنۍ نشي کولای او اجازه نه لري چې خپل د پام وړ اطلاعات په مستقله توګه او له اطلاعات او کلتور او استخباراتو ادارو څخه له اجازې اخستلو پرته خپاره کړي. هغوی یواځې د هغو راپورونو او معلوماتو د خپرولو اجازه لري چې طالبان یې غواړي او تاکید پرې کوي. په دې کې د ځانګړو مسایلو اړوند د اطلاعاتو خپرول لکه د بشر حقونو او د ښځو د حقونو اړوند اطلاعات خپرول په سخته منعه شوي دي، او رسنۍ باید په دې اړه هیڅ راپور خپور نه کړي. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۴ کال د اګست په میاشت کې د غزني ولایت د اطلاعات او کلتور ریاست په یوه مشورتي ناسته کې د خبریالانو او د سیمه ییزو رسنیو، استخباراتو او امربالمعروف ادارو د استازو پر وړاندې یو طرزالعمل معرفي کړ چې پر بنسټ یې د بشر حقونو د نقض د پېښو اړند د څېړنیزو او نورو راپورونو خپرول «د اسلامي امارت د ارزښتونو» خلاف ګڼل شوي دي.

د دولتي او خصوصي تلویزیونونو فعالیت، او هم د هیواد په ځینو برخو کې د ژوندیو موجوداتو تصویر اخستل، لکه په سویل او ختیځ حوزو کې منعه شوي دي. په دې ترتیب، دا مهال په دې حوزو کې د اطلاع رسونې یواځنی مرجع د طالبانو د سیمه ییزو ادارو فیسبوک پاڼې دي. سربېره پر دې، طلبان په یو شمېر ولایتونو کې په منظمه توګه د تلاشۍ په پوستو کې د هیوادوالو ټلفونونه او کمپیوټرونه هم ګوري، چې د بشر حقونو د نقض اړوند د معلوماتو د ثبت او خپرولو د مخنیوي ډاډ ترلاسه کړي. پر همدې بنسټ، ټول یاد محدودیتونه او په وروستیو کې «د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون» د وېرې او بې باورۍ د فضا خپرېدو، او په پایله کې د بشر حقونو د نقض اړوند د اطلاعاتو او شواهدو د پټ پاتې کېدو سبب شوی.

پر همدې بنسټ، هغه څه چې په دې راپور کې راځي، د بشر حقونو د نقض د ډېر شمېر پېښو یوه برخه ده چې رواداري بنسټ د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې شته امکاناتو، د لاسرسي کچې او ظرفیتونو ته په پام سره توانېدلی مستندې یې کړي.



## لومړۍ برخه

# د مدني او سياسي حقونو نقض

د راپور په دې برخه کې هغو عمده مواردو ته په کتو، چې د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې پېښ شوي او رواداري مستند کړي دي د مدني او سياسي حقونو د وضعيت پر ارزونې او شننې بحث کيږي. د ژوند حق، د آزادۍ او شخصي امنيت حق، د انساني کرامت او د سوله ييزو راټولېدونو د حقونو په بېلابېل ډول نقض هغه مهم موضوعات دي چې په راتلونکو بحثونو کې ارزول کيږي.

## د ژوند د حق نقض

د دې راپور موندنې ښيي چې د ۲۰۲۴ کال په بهير کې کم تر کمه ۷۶۸ کسان د هدفي انفجاري او ځانمرګو بريدونو، له تېرو جګړو پاتې ناچاودېدلو توکو د چاودنو په پايله کې، او يا په هدفي ډول او له محاکمې پرته وژل شوي په دې کې ۵۴۴ کسان وژل شوي او ټپيان شوي دي. او د ۲۲۴ تنو په شمېر ټپيان شوي دي. وژل شوي ۴۰۳ نارينه، ۴۰ ښځينه او ۹۹ ماشومان دي او د ۳ تنو هويت نه دی معلوم. همدا راز، ټپيان ۱۱۸ تنه نارينه، ۷ ښځينه، ۶۰ ماشومان او د ۳۹ تنو هويت نه دی معلوم. د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنيو غړي، ښځې، ماشومان، قومي مشران، مخالفين او د طالبانو منتقدين په قربانيانو کې شامل دي.

رواداري په ۲۰۲۳ کال کې ټول ۷۷۲ د ژوند د حق د نقض پېښې ثبت کړې وې[3]. په دې برخه کې د دواړو کلونو د شمېرو پرتله د پام وړ توپير سره نه لري.




### الف - د هدفي انفجاري او ځانمرګو بريدونو له امله پېښه شوي مرګ ژوبله

معلومات ښيي چې د ۲۰۲۴ کال په بهير کې په کابل، کندهار، هرات، تخار، پکتيکا او باميان ولايتونو کې د داعش، د پاکستان د نظامي هوايي ځواکونو بيرودنه او د آزادۍ جبهې د بريدونو په ګډون، د هدفي ځانمرګو او انفجاري بريدونو په پايله کې کم تر کمه ۱۷۱ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ټپيان شوي دي، چې په دې کې ۹۲ تنه وژل شوي او ۷۹ تنه نور ټپيان شوي دي.

رواداري په ۲۰۲۳ کال کې د هدفي ځانمرګو او انفجاري بريدونو له امله رامنځته شوې مرګ ژوبله ۲۳۷ تنه ثبت کړي ؤ.[2] د دواړو امارو پرتله ښيي چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه چې د هدفي او ځانمرګو بريدونو له امله



رامنځته شوې په ۲۰۲۴ کال کې د ۲۰۲۳ کال په پرتله ۲۷.۸ فیصده کمه شوې ده.




د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ پر ۷مه نېټه، د کابل په لویدیځ کې په یو مسافر وړونکي بس کې د ځای پر ځای شوې ماین د چاودنې له امله، کم تر کمه ۲ تنه ملکي وګړي ووژل شول، او ۱۴ تنه ټپیان شول. د دې برید مسئولیت داعش پر غاړه اخستی. همدا راز د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۲۱مه نېټه په کندهار ښار کې د کابل بانک  څانګې تر څنګ په یو ځانمرګي برید کې ۱۲ تنه ملکي وګړي ووژل شول، او ۳ تنه ټپیان شول. د دې برید مسئولیت هم داعش دلې پرغاړه اخستی.

له بل پلوه، د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۲۴مه نېټه د پکتیکا په برمل ولسوالۍ کې د پاکستان د نظامي ځواکونو په هوایي بمبار کې کم تر کمه ۵۱ تنه ملکي وګړي ووژل شول او ۸ تنه ټپیان شول.

**د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۹مه، د هرات ولایت په مرکز کې د طالبانو اروند په یو موټر کې د ځای پر ځای شوي مقناطیسي ماین د چاودنې له امله کم تر کمه ۴ تنه ملکي وګړي ټپیان شول. د دې برید مسئولیت د آزادۍ جبهې پر غاړه اخستی.**

## ب - د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې انفجاري موادو د چاودنې له امله رامنځته شوې مرګ ژوبله

د ۲۰۲۴ په بهیر کې کم تر کمه ۱۶۲ تنه د ځای پر ځای شویو ماینونو، سرګلولو او مختنیو جګړو څخه پاتې نورو چاودېدونکو توکو د چاودنو له امله وژل شوي او ټپیان شوي دي. له دې څخه د ۹۰ تنو په شمېر وژل شوي او ۷۲ تنه نور ټپیان شوي دي. دا ارقام د ۲۰۲۳ کال په پرتله چې ۱۰۷ پېښې وې[3]، ۵۱.۴۰ فیصده زیاتوالی ښیي.




**د ۲۰۲۴ کال د اپریل پر لومړۍ نېټه د غزني ولایت په «ځدران» کلي کې د یو ماین د چاودنې له امله ۹ ماشومان ووژل شول. په قربانیانو کې ۵ نجونې او ۴ هلکان وُ، چې د ۴ تر ۱۰ کلونو عمر یې درلود. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر پر ۳۰مه نېټه دوه ماشومان هلکان د هرات ولایت په ګذره ولسوالۍ کې د ځای پر ځای شویو ماینونو د چاودنې له امله ووژل شول.**

د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۶مه نېټه د نیمروز ولایت په مرکز کې د یو ماین د چاودنې له امله درې ماشومان ټپیان شول، همدا راز، د همدې کال د نوامبر پر ۲۱ مه دوه ماشومان هلکان له تېرو جګړو څخه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو له امله د پکتیکا ولایت په ګرده څېرې ولسوالۍ کې مړه شول. همدا رنګه، د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر پر ۱۱مه نېټه د میدان وردګ ولایت په سیدآباد ولسوالۍ کې د یوې سرګلولې د چاودنې له امله دوه ماشومان ووژل شول.



Photo (C) https://8am.media/ AP archive

د ملګرو ملتونو سازمان د ماشومانو د ملاتړ صندوق (یونسیف) ویلي چې د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې ۵۰۰ ماشومان د ناچاودېدلو مهماتو د چاودنو له امله وژل شوي او یا سخت ټپیان شوي دي.[4]

## ج - هدفي، مرموزي او له محاکمې پرته وژني

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې کم تر کمه ۴۳۵ تنه په هدفي او مرموز ډول او له محاکمې پرته د طالبانو او نامعلومو کسانو له خوا وژل شوي او ټپیان شوي دي. دا ارقام د ۲۰۲۳ کال په پرتله چې ۴۲۸ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه،[5] ۱.۶۳ فیصده زیاتوالی ښیي.




## د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو عاملان

د مخکني حکومت نظامي او ملکي کارکوونکي، د مخکني حکومت ملاتړي، قومي مشران، په مخالفو ډلو کې په غړیتوب یا ورسره په همکارۍ تورن کسان چې د طالبانو یا د هغوی د کورنۍ له غړو سره یې شخصي بدي درلوده، د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو قرباني شوي دي. یاد کسان د ټوپک په ډز او یا چاقو، تبر او تیشي باندې وژل شوي دي.

د مخکني حکومت د کارکوونکو او له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د تورنو کسانو په ګډون یو شمېر دغه کسان د طالبانو له خوا نیول شوي او وژل شوي دي. خو د یو شمېر دې ډول وژنو مرتکبان لکه څنګه چې طالبان ادعا کوي، نا معلومې ډلې او نامعلوم کسان دي. سره له دې، طالبان نه یواځې چې د دا ډول وژنو اړوند اطلاعات نه ورکوي او د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو د مرتکبانو د حقوقي تعقیب او مجازات کولو په برخه کې د خپلو اجراآتو راپور نه ورکوي، بلکې د قربانیانو کورنۍ هم د هر ډول نظر او معلوماتو ورکولو څخه منعه کوي. دا په داسې حال کې ده چې د وژنو د نورو بڼو په اړه او د مرتکبانو په نښه کولو او نیولو اړوند ژر تر ژره اطلاع ورکوي او راپور کوي یې.

له بل پلوه، طالبانو رسنۍ او خبریالان هم د دا ډول پېښو له خبري پوښښ څخه په کلکه منعه کړي او په ځینو مواردو کې یې په سزا او نیولو تهدید کړي دي. روغتونونه او روغتیایي مرکزونه هم اجازه نه لري چې د قربانیانو د هویت اړوند معلومات خپاره کړي او یا یې د رسنیو او خبریالانو په واک کې ورکړي. سربېره پر دې، په داسې حال کې چې طالبانو یو شمېر دغه قضیې د شخصي خصومت او ستونزو له امله بللې دي، خو د قربانیانو کورنۍ ادعا کوي چې طالبان پکې نقش لري.

سره له دې، د طالبانو دریځ نیول او متناقض چلند، په واقعیت کې پر دې دلالت کوي چې په دغه ډول وژنو کې لاس لري. لکه څنګه چې رواداري په ۲۰۲۴ کال کې داسې موارد مستند کړي دي چې طالبانو دا ډول وژنې په نامعلومو وسله والو ډلو او افرادو پورې تړلې دي، خو د قربانیانو د کورنیو غړو تاکید کړی چې خپله طالبان د دې وژنو عاملان دي.




**شواهد ښيي چې یاد موارد سازمان شوي دي او پراخ ماهیت لري؛ ځکه د ۲۰۲۱ کال په اگست کې واک ته د طالبانو له بیا راتګ څخه د مخکني حکومت کارکوونکي او په ځینو مواردو کې د هغوی د کورنیو غړي په ټول هیواد کې پرته له دې چې له کومې قومي او مذهبي ډلې سره تړاو لري، د غچ اخستنې موخه ګرځېدلي او وژل شوي دي.**

## ۱- د مخکني حکومت د کارکوونکو هدفي وژنې

د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې کم تر کمه ۹۱ تنه د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنیو غړي په هدفي، مرموز ډول او له محاکمې پرته وژل شوي او ټپیان شوي دي.

په ۲۰۲۳ کال کې د مخکني حکومت ۸۳ تنه کارکوونکي د هدفي بریدونو په پایله کې وژل شوي او ټپیان شوي ؤ. د دواړو ارقامو پرتله ښيي چې د راپور ورکولو په دې دوره کې د مخکني حکومت د کارکوونکو د هدفي وژنو په شمېر کې ۹.۶۳ فیصده زیاتوالی راغلی دي.




د ۲۰۲۴ کال په اکتوبر میاشت کې د خوست ولایت په اسماعیل خیل مندوزي ولسوالۍ کې دوه تنه پخواني نظامیان د نامعلومو وسله والو له خوا ووژل شول. له دوی څخه یو تن د طالبانو د امنیتي پوستې تر څنګ او بل د خپل کور مخې ته وژل شوی دی. په یوه بله پېښه کې طالبانو د همدې کال په نوامبر میاشت کې د مخکنۍ ملي اردو یو سرتېری د پکتیا ولایت په اریوب ځاځي ولسوالۍ کې ونیو چې څو ورځې وروسته یې مړی موندل شو.

همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر پر ۱۲مه نېټه د بدخشان ولایت په شغنان ولسوالۍ کې یو پخوانی نظامي د نامعلومو وسله والو کسانو له خوا په چاقو ووژل شو او طالبانو یې مړی کورنۍ ته وسپاره. هغه د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت له سقوط وروسته د کورنۍ د لګښتونو پوره کولو لپاره ټیکسي چلوله. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د اګست پر ۱۲مه د مخکني حکومت یو نظامي کارکوونکی د بدخشان ولایت په تیشکان ولسوالۍ کې په مرموز ډول ووژل شو. سیمه ییزو سرچینو ویلي چې نامعلومو وسله والو هغه له کوره وویست او و یې واژه؛ خو طالبان وایي چې هغه په طبیعي مرګ مړ شوی دی.

**د ۲۰۲۴ کال په اګست میاشت کې یو پخوانی نظامي د پروان ولایت په چاریکار ښار کې او د سیمه ییزو پولیسو یو قوماندان د سرپل ولایت د بلخاب ولسوالۍ په اسمیدان قریه کې ووژل شو. د ۲۰۲۴ کال د سپتامبر پر ۱۲مه نېټه یو پخوانی نظامي د غور ولایت کې ووژل شو، د قرباني کورنۍ ویلي چې طالبان د دې نظامي د وژنې عاملان دي. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال په نوامبر پر ۲۳مه یو پخوانی نظامي د غور ولایت په دولینه ولسوالۍ کې د طالبانو له خوا په خپل کور کې په ډزو ووژل شو. په یوه بله ورته پېښه کې، د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۱۶مه نېټه د مخکني حکومت یو پولیس د طالبانو د استخباراتو له خوا له خپل کور څخه و نیول شو او د فیروز کوه ښار په لاره کې یې په ډزو وواژه.**

د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۳مه نېټه یو مخکنی نظامي د فاریاب ولایت په پښتونکوټ ولسوالۍ کې په مرموز ډول ووژل شو. خو د هغه کورنۍ د طالبانو یو سیمه ییز قوماندان د دې وژنې مسئول ګڼي. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۷مه نېټه یو پخوانی نظامي د دې ولایت په قیصار ولسوالۍ کې د نامعلومو وسله والو له خوا ووژل شو.

په پنجشیر ولایت کې یو پخوانی نظامي د طالبانو له خوا په کابل ښار کې له ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور په ډزو ووژل شو. په یوه بله پېښه کې، د مخکني حکومت د امنیتي ځواکونو یو سرتېری په خوست ولایت کې د ۲۰۲۴ کال په ډسامبر میاشت کې په مرموز ډول ووژل شو. هغه په یوه نظامي قطعه (KPF) کې کار کاوه چې د امریکایي ځواکونو له خوا رامنځته شوې وه او له وژل کېدو وړاندې څو ځله د طالبانو د استخباراتو له خوا نیول شوی او شکنجه شوی و. سربېره پر دې، د ۲۰۲۴ کال په اګست میاشت کې یو پخوانی نظامي د پکتیکا ولایت په شیخ آباد ولسوالۍ کې له خپل کور څخه وویستل شو او ووژل شو. دا کس د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت له پرځېدو وروسته ایران ته تللی و، هیواد ته له راستنېدو وروسته د طالبانو له خوا ولسوالۍ ته جلب شو، مور یې په جریان کې وه او د هغه د لیدو په تمه وه خو سبا یې مړی د کور مخې ته وموند.

د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۲۰مه د غور ولایت «پسابند» ولسوالۍ کې دوه مخکني نظامیان په وحشتناک ډول په تبر او تیشي د نامعلومو کسانو له خوا ووژل شول. په یوه بله ورته پېښه کې د دې ولایت په مرکز کې د مخکني حکومت یو کارکوونکی له خپلې لور سره یوځای د ۲۰۲۴ کال د مارچ پر ۲۲مه په ډزو ووژل شو.

لکه مخکې چې وضاحت ورکړل شو، طالبان په ټولیز ډول دا د نامعلومو وسله والو کسانو کار ګڼي، خو رواداري بنسټ توانېدلی د مخکني حکومت د کارکوونکو د وژلو د مرتکبانو د نیولو او مجازات کولو لپاره د طالبانو د اقداماتو اړوند معلومات ترلاسه کړي.

## ۲- له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د ملکي وګړو وژنه

**د دې راپور د موندنو پر بنسټ، طالبانو د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې کم تر کمه ۴۶ تنه ملکي وګړي د دوی له مخالفو ډلو سره د همکارۍ او اړیکو په تور وژلي دي. دا ارقام د ۲۰۲۳ کال په پرتله د ۲۵ پېښو په توپیر سره دوه چنده زیات شوي دي.**



دوه چنده زيات شوي دي

ترلاسه شوي شواهد ښيي چې طالبان له خپلو مخالفو ډلو سره د همکارۍ یا د غړیتوب په تور تورن کسان د «باغي»، «خوارج» او یا د داعش ډلې د غړيتوب په تور له هر ډول څېړنې او قضایي مراحلو پرته وژني. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۴ کال د فبرورۍ پر ۴مه او د مارچ پر ۲۳مه نېټه دوه تنه چې هویت یې نه دی مشخص شوی د غور ولایت په «شهرک» ولسوالۍ او مرکز کې له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور او پر طالبانو د برید په تور ونیول او و یې وژل. د دې ولایت سیمه ییزو مسئولینو ویلي چې «هغوی دوه تنه چې د برید قصد یې درلود» ووژل؛ خو د دې دوو کسانو د هویت په اړه یې معلومات ورنکړل.

همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۲۸مه د فارياب ولايت د خیبر ولسوالۍ یو تن اوسېدونکی له داعش ډلې سره د همکارۍ په تور د طالبانو له خوا ووژل شو. طالبانو په پېټرولو د دې کس خونې ته اور ورته کړ، چې په دې پېښه کې دوه ښځې هم ټپيانې شوې. همدا راز د پروان ولايت دوه تنه اوسېدونکي د پروان ولايت په جبل السرج ولسوالۍ کې له ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور د طالبانو له خوا ووژل شول. یاد کسان، د مخکني حکومت نظاميان ؤ. په یوه بله ورته پېښه کې، په پروان ولایت کې یو مخکنی نظامي د طالبانو استخباراتو له خوا ووژل شو. د قرباني کورنۍ ویلي چې هغه له هیڅ ډلې سره اړیکه نه درلوده او د خپل ځان او کورنۍ د لګښتونو پوره کولو لپاره یې بزګري کوله.

## ۳- د نورو ملکي هیوادوالو مرموزې او له محاکمې پرته وژنې

د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې کم تر کمه ۲۹۸ تنه ملکي هیوادوال په مرموز ډول او له محاکمې پرته د طالبانو او نامعلومو وسله والو له خوا وژل شوي او ټپیان شوي دي. په دې کې ۲۴۱ تنه وژل شوي او ۵۷ تنه نور ټپیان شوي دي. د مخکني حکومت ملاتړي، قومي مشران، ديني علما او سیمه ییز مخور هغه کسان د راپور ورکولو په دې دوره کې وژل شوي او ټپیان شوي دي.

په ۲۰۲۳ کال کې د ۳۲۴ په شمېر ملکي وګړي په ورته پېښو کې وژل شوي او ټپیان شوي دي. پر همدې بنسټ، د دواړو ارقامو پرتلنه ښيي چې د راپور ورکولو په دې دوره کې د ټولو ملکي وګړو شمېر چې له محاکمې پرته او په مرموز ډول وژل شوي يواځې ۸ فیصده کم شوی دی.



۸ فیصده کم شوی دی

د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۳۱مه نېټه، یو تن چې په مخکني حکومت کې د هلمند ولایت د ټولنیزې شورا غړی و د نامعلومو وسله والو له خوا ووژل شو. طالبانو تر اوسه د دې پېښې د عاملانو پېژندلو لپاره کوم اقدام نه دی کړی. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د سپټامبر پر ۱۸مه نېټه په کندهار ولایت کې یو قومي مشر د نامعلومو وسله والو له خوا د ټوپک په ډز ووژل شو. د ۲۰۲۴ کال د سپټامبر پر ۱۶مه نېټه د یو بل ټوټه ټوټه شوي سړي جسد چې هویت یې نه دی معلوم په دوو بوجیو کې وموندل شو، دا پېښه د کندهار ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې پېښه شوې. د طالبانو سیمه ییزو مسئولینو تر اوسه د دې پېښې په اړه نظر نه دی څرګند کړی.

د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۷مه او ۲۹مه د بادغیس ولایت په قادس ولسوالۍ کې دوه تنه قومي مشران د نامعلومو وسله والو کسانو له خوا د ټوپک په ډزو ووژل شول. په یوه بله پېښه کې د ۲۰۲۴ کال د اګست پر ۲مه نېټه د باميان ولایت په پنجاب ولسوالۍ کې یو قومي مشر د نامعلومو وسله والو له خوا چې د طالبانو نظامي یونیفورم یې پر تن و، د ټوپک د ډزو موخه وګرځېد او ووژل شو. د قرباني کورنۍ د عدالت غوښتنې لپاره طالبانو ته مراجعه وکړه؛ خو طالبانو ویلي چې د دې پېښې د تعقیب له پاره څه نشي کولای.

**همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۱۲مه نیټه طالبانو د بدخشان ولایت د فیض آباد ولسوالۍ یو اوسېدونکی د لفظي شخړې له امله د ۵ کلنې لور د سترګو پر وړاندې په ډزو وواژه. هغه نانوايي درلود او د خپلې کورنۍ د نهه تنه غړو سرپرست و.**

په داسې حال کې چې د يادو پېښو لويه برخه نامعلومو وسله والو ته منسوب شوې؛ خو طالبانو د دې نامعلومو وسله والو اړوند هيڅ قانوني اقدام نه دی کړی او د قربانيانو کورنيو ته يې د خپلو اجراآتو اړوند معلومات نه دي ورکړي.

## اجباري تري تم کول

د جبري تري تم کولو معنا د وګړو نیول، توقیف او تښتول دي چې د دولت د مامورینو او نورو ډلو له خوا د دولت په غیاب کې یا د دولت په اجازه، ملاتړ یا رضایت سره ترسره کیږي، او ورپسې د نیولو له اعلان او د قربانیانو د برخلیک او د پټ ساتلو د ځای په اړه له معلوماتو ورکولو څخه ده کیږي.[6] د بشر حقونو بین المللي اسناد او په ځانګړې ډول د بین المللي جزايي محکمې اسنامې د وګړو جبري تري تم کول د بشر حقونو تر ټولو سخت نقض او د بشریت ضد جنایت د مصداق په توګه په رسمیت پېژندلی دی.[7] همدا راز، اجباري تري تم کول چې ډېری له نیول شویو کسانو سره ناوړه چلند او شکنجه هم پکې وي د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني او سپکوونکو چلندونو مخنیوي کنوانسیون د لومړۍ او دویمې مادي ښکاره نقض ګڼل کیږي.[8] سره له دې، د دې راپور موندنې ښيي چې

**د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې د افغانستان په لسو ولایتونو کې کم تر کمه ۵۱ تنه،[9] د طالبانو له خوا تر نیول کېدو وروسته تري تم شوي دي. دا ارقام د ۲۰۲۳ کال[10] په پرتله چې ۳۰ پېښې وې ۷۰ فیصده زیاتې شوي دي. د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنیو غړي، د بشر حقونو فعالان او د مخالفو ډلو په همکارۍ تورن کسان او د طالبانو منتقدین په قربانیانو کې شامل دي.**

د جبري تري تم کولو د کچې زیاتوالی ښيي چې طالبان له دې څخه په سیستماتیک ډول د مخکني حکومت له کارکوونکو او مخالفینو او منتقدینو څخه د غږ اخستنې د وسیلې په توګه ګټه اخلي.




د ۲۰۲۴ کال د اګست پر ۹مه نېټه طالبانو یو پخوانی نظامي په باميان ولایت کې ونیو او نامعلوم ځای ته یې یوړ چې تر اوسه یې د کورنۍ د لټون سره سره د برخلیک په اړه هیڅ اطلاع نشته او طالبان هم د هغه د وضعیت او د ساتلو د ځای په اړه معلومات نه ورکوي.

**همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر پر ۲۶مه نېټه طالبانو یو تن د هرات ولایت څخه چې نوی له ایران څخه راستون شوی و د تور له اعلان پرته ونیو. د یاد کس کورنۍ ویلي چې تر اوسه د هغه د برخلیک او د ساتلو د ځای په اړه هیڅ اطلاع نه لري. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر ۲۵مه او ۲۷مه د طالبانو استخباراتو د بدخشان ولایت څخه دوه تنه ونیول او نامعلوم ځای ته یې یوړل. د نیول شویو کسانو کورنیو ویلي چې ډېره موده نه پوهېدل چې پر هغوی پورې شوی تور څه دی او چېرې ساتل کیږي. په یوه بله پېښه کې د ۲۰۲۴ کال د اګست پر ۲۲مه نېټه طالبانو یو تن له بغلان ولایت څخه ونیو، له**




## هغې وروسته یې د وضعیت او د ساتلو د ځای په اړه هیڅ معلومات په لاس کې نشته.

له بل پلوه، د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر ۱۱مه نېټه د طالبانو استخباراتو په غور ولایت کې یو مخکنی نظامي او د هغه ورور ونیول، د دې دوو کسانو کورنۍ ویلي چې د هغوی د برخلیک او د ساتلو د ځای په اړه هیڅ معلومات نه لري او طالبانو هم د هغوی د نیولو لامل او په هغوی پورې شوی تور نه دی اعلان کړی.

د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر پر ۵مه نېټه د طالبانو استخباراتو په غور ولایت کې دوه تنه نجوني ونیولې او نامعلوم ځای ته یې ولیږدولې. د دې دوو نجونو خپلوانو ویلي چې څو څو ځلې یې د طالبانو استخباراتو اداري ته مراجعه کړې خو سیمه ییز مسئولین د هغوی د وضعیت او د ساتنې د ځای په اړه معلومات نه ورکوي.

سربېره پر دې، له بادغیس ولایت څخه ترلاسه شوي معلومات ښیي چې د ۲۰۲۴ کال په وروستیو کې کم تر کمه ۷ تنه بندیان چې په سیاسي دلایلو نیول شوي ؤ، د دې ولایت له محبس څخه تري تم شول اوله هغې وخته یې د وضعیت په اړه هیڅ معلومات نشته.

## خپلسري او غیرقانوني نیونې

د دې راپور د موندنو پر بنسټ د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې د ۴۲ ښځو په ګډون کم تر کمه ۸۸۵ تنه په خپلسري او غیرقانوني ډول نیول شوي او بندیان شوي دي. رواداري د ۲۰۲۳ کال په بهیر کې ټولې ۶۲۳ خپلسري او غیرقانوني نیونې ثبت کړې وې.[11] د دواړو شمېرو پرتلنه ښیي چې په ۲۰۲۴ کال کې د خپلسرو او غیرقانوني نیونو کچه د ۲۰۲۴ کال په پرتله ۴۲ فیصده زیاته شوې ده.




په داسې حال کې چې د بشر حقونو بین المللي اسنادو، د آزادۍ او شخصي امنیت حق د وګړو د تر ټولو مهم بشري حق په توګه په رسمیت پېژندلی او د وګړو د آزادۍ د خپلسري او غیرقانوني سلب پر مخنیوي یې تاکید کړی.[12] خو حاکمه ډله د بشر حقونو موازینو او د وګړو د نیولو

اړوند قانوني تشریفاتو ته له پاملرنې پرته، په پراخه توګه د هیوادوالو د خپلسرو او غیرقانوني نیولو مرتکب شوې ده.

د مخکني حکومت کارکوونکي، منتقدین او د طالبانو په نظامي او سیاسي مخالفو ډلو کې په غړیتوب تورن کسان، مدني فعالان او خبریالان هغه کسان دي چې د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې د طالبانو له خوا په خپلسري او غیرقانوني ډول نیول شوي او بندیان شوي دي. پر یادو کسانو بېلابېل تورونه لګول شوي، لکه د سوله ایزو غونډو (لاریونو) جوړول، ښځو ته د تعلیمي خدمتونو وړاندې کول، وسلې درلودل، د طالبانو له نظامي او سیاسي مخالفو ډلو سره همکاري، انتقاد، د طلبانو پر ضد تبلیغات، د محرم نه درلودل، د پوښاک ډول او د ښځو د تګ راتګ اړوند د طالبانو د امربالمعروف اداري له خوا د ټاکل شویو مقرراتو سرغړونه. اداري فساد او له هیوادوالو څخه د اخاذۍ لپاره د طالبانو هڅه په ۲۰۲۴ کال کې د خپلسرو نیونو یو بل دلیل و.

د دې راپور موندنې ښیي چې طالبان د وګړو له نیولو او بندیانولو څخه د ځینې، غچ اخستنې او د خپلو سیاستونو او پروګرامونو د پلي کولو د وسیلې په توګه کار اخلي. له بل پلوه، دا مهال د نیونې د شرایطو د ټاکلو او د نظارت او توقیف د مودې لپاره هیڅ قانون نشته. پر همدې دلیل د دې ډلې بېلابېلې اداري، په خپلسري ډول د هیوادوالو د آزادۍ او شخصي امنیت حق سلبوي. د بېلګې په توګه، په هرات ولایت کې د پوهنې او اوبو او بریښنا ریاستونه هر یو شخصي زندانونه لري او کولای شي خلک تر هغې مودې چې غواړي یې په بند کې وساتي.

د طالبانو ټولې اداري د امنیه قوماندانیو په ګډون د وګړو په غیر قانوني توقیفولو او بندیانولو کې نقش لري او په دې کې تر ټولو زیاتې خپلسري نیونې په ۲۰۲۴ کال کې د استخباراتو او امربالمعروف ادارو له خوا ترسره شوي دي. یادې اداري چې په ټول هیواد کې خپلې نظارت خونې لري او په ډېری مواردو کې نیول شوي کسان له قضایي پروسو پرته او د رسمي دوسیو له ترتیب او محکمو ته له راجع کولو پرته مجازات کوي.

## ترلاسه شوي معلومات همدا راز ښیي چې طالبان د یو شمېر بندیانو او په ځانګړې ډول د دوی له

## مخالفو ډلو سره د غړیتوب او همکارۍ په تور تورن کسان قصداً قضایي بنسټونو ته نه لیږي او د هغوی محاکمه ځنډوي. په داسې حال کې چې د عادلانه او بیړنی محاکمې حق د نیول شویو کسانو قانوني حق دی. سره له دې چې د دې نیول شویو کسانو د نیولو میاشتې تېرېږي، خو لا هم بې برخلیکه او د محکمې د حکم په تمه دي. د بېلګې په توګه په کندهار ولایت کې د طالبانو په مخالفو ډلو کې د غړیتوب په تور درې تنه بندیان په غیرقانوني ډول شپږ میاشتې د استخباراتو په توقیف خونه کې بندیان ؤ، وروسته د دې ولایت عمومي زندان ته لېږدول شوي دي. محکمې تر اوسه د دې کسانو په اړه هیڅ حکم نه دی صادر کړی او دې بندیانو د خپلوانو په وینا د طالبانو استخبارات قصداً د دوی دوسیې محکمو ته نه لیږي. ځکه «غواړي دا کسان تر نامعلوم وخت پورې په زندان کې پاتې شي.»

په ځینو مواردو کې د طالبانو استخبارات خلک تر هغه وخته په بند کې ساتي چې د ندامت او پښېمانۍ څرګندونه وکړي. البته دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو محاکم په نورو مواردو کې لکه د عادي جرایمو اړوند د هیڅ ډول څېړنې او قانوني تشریفاتو له رعایتولو پرته په یوه ناسته کې د تورنو کسانو په اړه تصمیم نیسي او حکم کوي.

سربېره پر دې یو شمېر بندیان په داسې حال کې چې وختي یې د سزا ټاکلی وخت پوره کړی، خو لا هم په زندان کې پراته دي. دا بندیان د طالبانو پر ضد د تبلیغاتو له امله نیول شوي دي. سره له دې، د نیول شویو کسانو په محاکمه او د برخلیک په ټاکلو کې ځنډ او هم د بند د قانوني مودې له پوره کولو وروسته د بندیانو په خوشې کولو کې ځنډ، د غیر قانوني نیونو ښکاره مصداق او د وګړو د آزادۍ او شخصي امنیت د حقونو نقض ګڼل کیږي.

## الف - د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلسري نيونې

په ۲۰۲۴ کال کې د مخکني حکومت ۱۴۲ تنه ملکي او نظامي کارکوونکي په غيرقانوني توګه ډېرى د طالبانو د استخباراتو اداري له خوا نيول شوي او بنديان شوي دي. د ارقامو پرتلنه ښيي چې د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلسري نيونې د ۲۰۲۳ کال په نسبت چې ۱۱۸ پېښې وې، ۲۰.۳ فيصده زياتې شوي دي.




معلومات ښيي چې طالبانو د ۲۰۲۴ کال په بهير کې په غور او تخار ولايتونو کې خورا زياتې خپلسري نيونې ترسره کړې دي. په غور ولايت کې ۵۰ تنه او په تخار ولايت کې ۲۲ تنه په دې موده کې نيول شوي او بنديان شوي دي.

د ۲۰۲۴ کال د سپتامبر پر ۲۸مه نېټه يو جهادي قوماندان او يو مخکنی نظامي د بغلان ولايت په خوست ولسوالۍ کې د استخباراتو اداري له خوا ونيول شول. طالبانو د دوی د نيولو د دلايلو اړوند سپيناوی نه دی کړی. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال په نوامبر مياشت کې طالبانو يو مخکنی نظامي په پنجشېر ولايت کې له ملي مقاومت جبهې سره د اړيکو او همکارۍ په تور بندي کړ. د ياد کس خپلوانو د طالبانو له مخالفو ډلو سره د هغه هر ډول اړيکې رد کړې دي او ادعا کوي چې دا مخکنی نظامي په شخصي کاروبار بوخت و، او په واقعيت کې له مخکني حکومت سره د کار کولو له امله نيول شوی دی. په يوه بله ورته پېښه کې په دې ولايت کې، د طالبانو د استخباراتو اداري د ۲۰۲۴ کال په ډسامبر مياشت کې يو پخواني نظامي ونيو، هغه له ايران څخه افغانستان ته شړل شوی و، او د کورنۍ په وينا يې طالبانو تر اوسه د دې پخواني نظامي د وضعيت په اړه دوی ته معلومات نه ورکوي.

**همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۳۰مه نېټه د طالبانو استخباراتو په ننګرهار ولايت کې يو مخکنی نظامي کس جلب او وروسته يې ونيو. هغه څو ورځې ورسته د سيمې د مشرانو په هڅه له بنده خوشې شو. ترلاسه شوي معلومات ښيي چې ياد کس سره ناوړه چلند شوی او ربړول شوی دی.**

د ۲۰۲۴ کال د نومبر پر ۱۹مه نېټه طلبانو يو مخکنی نظامي په باميان ولايت کې ونيو. همدا راز، د پروان ولايت په جبل السراج ولسوالۍ کې د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په مياشت کې طالبانو درې تنه پخواني نظاميان د وسلې درلودلو او له ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور، او دوه تنه نظاميان د ۲۰۲۴ کال د سپتامبر پر ۲۸مه په بغلان ولايت کې ونيول او بنديان يې کړل. د سيمې اوسيدونکو ويلي چې هر ځل په هغو سيمو کې چې د طالبانو مخالفې جبهې نظامي خوځښتونه کوي، سمدستي مخکني نظاميان نيول کيږي او بنديانيږي.

همدا راز ترلاسه شوي شواهد ښيي چې طالبانو د مخکني حکومت يو شمېر نظاميان چې د ۲۰۲۴ کال په بهير کې يې هيواد ته وربللي ؤ، نيولي او شکنجه کړي دي. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر په مياشت کې په پکيتکا ولايت کې د مخکني پوليسو قوماندان چې د طالبانو په بلنه خپل کور ته راګرځېدلی و، په يو لړ شپنيو عملياتو کې د طالبانو له خوا ونيول شو. هغه لس ورځې ترې تم و چې بالاخره د کورنۍ له بيا بيا هڅو وروسته معلومه شوه چې د استخباراتو په نظارت خونه کې بندي دی. طالبانو تر دې وړاندې د هغه ورور هم نيولی او شکنجه کړی و.

له بل پلوه، د مخکني حکومت د تېټ پوړو کارکوونکو د ځورونې پېښې هم شته، چې دا مهال د طالبانو تر کنټرول لاندې په دولتي ادارو کې کار کوي. د بېلګې په توګه په کندهار، نيمروز، هرات، غزني او غور ولايتونو کې طالبانو د مخکني حکومت يو شمېر کارکوونکي په بېلابېلو پلمو ځورولي او د دندو پرېښودو ته يې اړيستلي دي. همدا راز، طالبانو د ۲۰۲۴ کال له پيل څخه په کندهار ولايت کې لکه په «ارغنداب او پنجوايي» ولسواليو کې د شپنيو ميلمستاوو په ګډون د مخکني حکومت د امنيتي او

دفاعي بنسټونو د کارکوونکو هر ډول راتولېدل منعه کړي دي، او هغوی ته يې خبرداری ورکړی چې د سرغړونې په صورت کې به ونیول شي او مجازات به شي.

## ب - د مدني فعالانو او د بشر حقونو د مدافعینو خپلسري نیونې

د دې راپور موندنو ښودلې چې طالبانو د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې د ۱۸ ښځو په ګډون کم تر کمه ۸۲ تنه مدني فعالان او د بشر حقونو مدافعین په خپلسري ډول نیولي او بندیان کړي دي. د دې کسانو تور ښځو ته د تعلیمي خدمتونو وړاندې کولد طالبانو پر ضد تبلیغات او د ښځو او نورو مسلو په اړه د دې ډلې پر سیاستونو نیوکه و.

رواداري په ۲۰۲۳ کال کې د مدني فعالانو، د بشر حقونو د مدافعانو او خبریالانو د خپلسرو نیونو ټولې ۹۰ پېښې ثبت کړې وې. د یادو ارقامو پرتله ښیي چې د مدني فعالانو، د بشرحقونو د مدافعانو او خبریالانو د خپلسرو نیونو کچه په ۲۰۲۴ کال کې ۸.۸۸ فیصده کمه شوې ده.




د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر ۲۸مه د طالبانو استخباراتو یو خبریال او یو مدني فعال په بدخشان ولایت کې په فیسبوک خواله رسنۍ کې د انتقادي پوست د خپرولو او د شکنجې له یو قرباني سره د خواخوږۍ له امله د ۵ ورځو لپاره بندي او شکنجه کړل، هغه د طالبانو پر سیاستونو د نیوکو نه کولو له ژمنې وروسته له بنده خوشې شو. په یوه بله ورته پېښه کې، د ۲۰۲۴ کال په اکتوبر میاشت کې د طالبانو د استخباراتو اداري په کندهار ولایت یو خبریال او مدني فعال په خواله رسنیو کې د انتقادي پوست خپرولو له امله ونیو. دا خبریال د اطلاعات او کلتور ریاست په امر نیول شوی و.

سربېره پر دې، د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر ۳مه نېټه، طالبانو د بادغیس ولایت دوه خبریالان ونیول او له یوې ماشتې بند وروسته يې خوشې کړل. د ۲۰۲۴ کال په اګست میاشت کې په کندهار حوزه کې یو رسنیز فعال د امربالمعروف ریاست له خوا د اخلاقي فساد او د طالبانو د یوې مخالفې ډلې د غړیتوب په تور ونیول شو. هغه رواداري ته ویلي چې دا تورونه رښتیا نه وو، او طالبانو هغه د خبریالی او له رسنیو سره د کار له امله نیولی و.

## ج - د طالبانو له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د خلکو خپلسرې نیونې

د دې راپور موندنو ښودلې ده چې طالبانو د راپور ورکولو په دې دوره کې کم تر کمه ۲۷۲ تنه د دوی له نظامي او سیاسي ډلو سره د همکارۍ او اړیکو په تور نیولي او بندیان کړي دي. دا شمېر د ۱۵۸ پېښو په توپیر سره دوه برابره زیات شوی دی.




د دې راپور د موندنو پر بنسټ، طالبانو دغه کسان په ډېرو مواردو کې له اسنادو او موجه دلایلو پرته د دوی له مخالفو نظامي او سیاسي ډلو سره د همکارۍ په تور نیولي دي.

د ۲۰۲۴ کال په اګست میاشت کې د طالبانو استخباراتو یو سړی له ملي مقاومت جبهې سره د اړیکو په تور په کابل کې ونیو. د دې کس خپلوانو ویلي چې هغه موټر چلوونکی و، او پرې لګول شوي تورونه سم نه دي. په یوه بله پېښه کې، د ۲۰۲۴ کال د اګست پر ۳۱مه نېټه، د هرات ولایت د ګذره ولسوالۍ یو تن اوسېدونکی د دوی په وینا «دښمن سره د همکارۍ» په تور ونیو، دې کس شپني کوله او کورنۍ يې ادعا کړې چې له هیڅ ډلې سره يې اړیکه نه درلوده. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر ۲مه نېټه د طالبانو استخباراتو په هرات ولایت کې دوه تنه روحانیون له نظام سره د مخالفت په تور ونیول او بندیان يې کړل، چې د سیمې د مشرانو په هڅو له بنده خوشې شول.

د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۸مه نېټه، طالبانو یو کس د بلخ ولایت په مرکز مزار ښار کې له مخالفو جبهو سره د همکارۍ په تور ونیو، همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر ۱۶مه د استخباراتو اداري د سیمه ییزو پولیسو یو قوماندان په لغمان ولایت کې له آزادۍ جبهې سره د اړیکو او د طالبانو پر ضد د نظامي بریدونو په تور ونیو. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر میاشت په هرات ولایت یو تن اوسېدونکی له ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور د طالبانو د استخباراتو له خوا ونیول شو او د دې ولایت عمومي زندان ته ولېږدول شو. د دې کس خپلوانو ویلي چې طالبانو تر اوسه له مخالفو ډلو سره د هغه د همکارۍ هیڅ سند او دلیل نه دی وړاندې کړی او د هغه نیول شخصي او قومي انګېزه لري. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال په ډسامبر میاشت کې د استخباراتو اداري یو مخکنی نظامي په پنجشیر ولایت کې له ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور ونیو. دا کس د جمهوري اسلامي افغانستان له سقوط وروسته ایران ته تښتېدلی و او وروسته له هغې چې افغانستان ته وشړل شو، د طالبانو له خوا ونیول شو. د دې کس کورنۍ هم ادعا لري چې هغه له ملي مقاومت جبهې سره هیڅ اړیکه نه درلوده او طالبان له نیولو وروسته د دې نظامي د وضعیت په اړه معلومات نه ورکوي.

### د. د خپلسرو او غیرقانوني نیونو نور موارد

د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې د ۹ ښځو په ګډون ۳۷۹ تنه په غیرقانوني او خپلسري ډول نیول شوي او بندیان شوي دي. د دې کسانو تورونه د وسلې درلودل، سلفي رجحان، په حزب التحریر کې غړیتوب، او تر هر څه مهم د امربالمعروف له مقرراتو سرغړونه، لمانځه ته نه حاضرېدل، د ږیرې لنډول، بې حجابي او د شرعي محرم نه درلودل دي. دا کسان ډېری د امربالمعروف او استخباراتو ادارو له خوا نیول شوي دي. شمېرې ښیي چې د یادو کسانو خپلسري او غیرقانوني نیونې د راپور ورکولو په دې دوره کې ۳۰.۲ فیصده زیاتې شوې دي او تر ټولو مهم لامل یې د امربالمعروف او نهی عن المنکر د قانون پلي کولو هڅه ده.

په همدې حال کې، داسې موارد هم شته چې یو شمېر هیوادوال د غیر موجه تورونو او د طالبانو تر کنټرول لاندې ادارو کې د شته فساد له امله نیول شوي او بندیان شوي دي. د بېلګې په توګه د استخباراتو اداري له کندهار ولایت څخه یو تن له هغه څخه د پیسو ترلاسه کولو له امله بندي کړی و. د دې کس تور په مخکني حکومت کې د یوې ودانیزې پروژې پلي کول ؤ، چې د بهرنیو څواکونو له خوا تمویل کېده. هغه له دوه میاشتې بند وروسته د شل زره ۲۰۰۰۰ امریکایي ډالرو په ورکولو خوشې شو. په یوه ورته بله پېښه کې په بامیان ولایت کې طالبانو د مخکني حکومت یو نظامي نیولی و او د خوشې کولو په بدل کې یې څلور لکه افغانۍ ترې غوښتې وې، دا مخکنی نظامي بالاخره د دوه لکه افغانیو په ورکولو له بنده خوشې شو.

## د هیوادوالو آزادۍ او شخصي امنیت پر حق د «امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون» اغېزې

د دې راپور موندنې ښیي چې د «امربالمعروف قانون» له خپرېدو وروسته د خپلسرو او غیرقانوني نیونو شمېرې په پراخه توګه زیاتې شوې دي. څکه طالبان په زور او له تاوتریخوالي په ډکو لارو چارو، لکه د خلکو په نیولو او بندیانولو سره دا قانون پلی کوي. د بېلګې په توګه،

**د هیواد په جنوبي حوزه کې د امربالمعروف مامورین د ښار پلورنځیونه څاري او که کوم دوکان د لمانځه په وخت کې خلاص وي، مالک یې نیسي یا یې څوروي. همدا راز، په ځینو سیمو او د هیواد په ځینو ولایتونو کې، که سلمانیانې او عمومي حمامونه د نارینه وو ږیرې او د سر ویښته د امربالمعروف اداري له خوا له ټاکل شوې اندازې کم کړي، بندیانیږي.**

د کندهار ولایت یو تن اوسېدونکي رواداري ته ویلي چې هغه د خپلې ږیرې د کمولو له امله د ۲۴ ساعتونو لپاره د امربالمعروف اداري په بند کې و. طالبان د ارزګان ولایت په مرکز ترینکوټ کې له درې کانتینرونو څخه د هغو کسانو د موقتي بندیانولو لپاره کار اخلي چې پوښاک او بڼه یې د «امربالمعروف او نهی عن المنکر» له قانون سره سم نه وي.



له بل پلوه، طالبان د امربالمعروف د قانون په استناد چې د موسیقۍ اورېدل، سندرې ویل او د موسیقۍ د آلاتو کارول یې منعه کړي دي، د تلاشیو په پوستو کې موټر او د خلکو ټلفونونه ګوري. په همدې حال کې، په لوګر، غزني او میدان وردګ ولایتونو کې د امربالمعروف اداري ټولو د ګذر وکیلانو ته امر کړی چې د طالبانو د رهبر د فرمانونو خلاف چلندونه او د هغو کسانو لیست، چې ظاهري بڼه او پوښاک یې د امربالمعروف له قانون سره سم نه وي دوی ته ور ولیږي، او که دا کار و نکړي مجازات به شي.

Photo (C) https://8am.media/ Mohsen KARIMI / AFP

له کندهار حوزې څخه درې تنو رواداري ته ویلي چې څو ځل دوی د امربالمعروف اداري د کارکوونکو له خوا د پوښاک د ډول او د ږیرې د اندازې له امله تحقیر او توهین شوي او نیول شوي دي. د امربالمعروف مامورینو دې کسانو ته خبرداری ورکړی و چې یا د هغوی له ټاکلې اندازې سره سمې ږیرې پریږدي او پګړۍ وتړي او یا دې خپل ولایت پریږدي. دې کسانو بالاخره خپل ولایت پرېښود. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال په جولای میاشت کې طالبانو د کندهار ښار له سلمانیو څخه درې تنه، په ځانګړې سبک د یو کم عمره هلک د ویښتانو جوړولو له امله د پینځو ورځو لپاره بندیان کړل. دا کسان لومړی د پولیسو حوزې او وروسته امربالمعروف ریاست او له هغې ځایه د امنیې قوماندانې نظارت خونې ته لېږدول شوي ؤ. د ۲۰۲۴ کال په نوامبر میاشت کې، په دې ولایت کې د طالبانو د امربالمعروف ریاست د پوهنې ریاست ۱۴ تنه برحال کارکوونکي د ږیرې کمولو په تور ونیول او هغوی ته یې خبرداری ورکړ چې د دې عمل د تکرار په صورت کې به له خپلو دندو ګوښه شي.

د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۳۰مه د امربالمعروف اداري په غزني ولایت کې د یوې دولتي رسنۍ دوه تنه خبریالان د ږیرې کمولو او خولۍ نه درلودلو له امله د ۲۴ ساعتونو لپاره په یو کانتینر کې بندیان کړل. همدا راز د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۱۴مه نېټه د امربالمعروف مامورینو په غزني ولایت کې یو سلمان د یو سړي د ږیرې خریلو په تور ونیو، طالبانو د دې کس دوکان بند کړ او هغه یې د ۱۰ ورځو لپاره بندي کړ.

## د انساني کرامت د حق نقض

انساني کرامت د ذاتي حقونو برخه او د انسانانو د مساوي حقونو بنسټ ګڼل کیږي. دا حق د انسانانو په حرمت او شرافت تاکید کوي، چې په هیڅ شرایطو کې باید سترګې پرې پټې نشي. سربېره پر دې، انساني کرامت ته د درناوي لپاره یو شمېر نور حقونه لازم دي، لکه له هر ډول شکنجې، تحقیر، سپکاوي او د نورو ظالمانه چلندونو له بڼو څخه خوندیتوب.[13] سره له دې، د رواداري موندنې ښیي چې طالبانو د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې یادو اصولو ته له اعتنا پرته، د خلکو د انساني کرامت حق په پراخه توګه نقض کړی دی، چې د راپور په دې برخه کې یې پر دوه تر ټولو مهمو مواردو بحث کیږي.

### د بندیانو شکنجه او ربړول او ورسره ناوړه چلند

له شکنجې څخه خوندیتوب د خلکو د مطلقو او نه سلبیدونکو حقونو په کتار کې راځي، چې تر هیڅ شرایطو لاندې په هیڅ توجیه سره نشي کیدای چې نقض شي. د شکنجې او د نورو ظالمانه، غیرانساني یا تحقیروونکو چلندونو او مجازاتو د مخنیوي کنوانسیون او د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون، د وګړو تعذیب او ربړول منعه کړي دي.[14]

سره له دې، ترلاسه شوي شواهد او اسناد ښیي چې طالبان له شکنجې څخه د وګړو پر ضد د تور د اثبات او اعتراف اخستلو لپاره کار اخلي. دا اعترافات د وګړو او په ځانګړې ډول د مخالفینو او منتقدینو د ځپلو او مجازات کولو د توجیه لپاره د سند په توګه کاروي. سربېره پر دې، د شواهدو او د الزام د دلایلو د راټولولو له قانوني طریقو سره د دې ډلې د عدلي او قضایي بنسټونو نابلدتیا د شکنجه کولو ناوړه چلندونو بل لامل دی. سره له دې، طالبان په سختو محدودیتونو او شرایطو پلي کولو سره د ناوړه چلند، شکنجې او د حقونو د نقض اړوند د شواهدو پېټولو هڅه کوي او د بشري حقونو او څارونکو سازمانونو ته دغو ځایونو ته د لاسرسي اجازه نه ورکوي. دا محدودیتونه د ښځینه زندانونو او د دوو ادارو استخباراتو او امربالمعروف د نظارت خونو اړوند لا ډېر او سخت دي. له بل پلوه، خوشې شوي بندیان او په ځانګړې ډول د شکنجې قربانیان په تهدید او وېرولو سره چوپتیا ته اړیستل کیږي. طالبان هغوی په بیا نیولو، بیا مجازات کولو او حتا وژلو تهدیدوي. پر همدې دلیل، ډېری د شکنجې قربانیان ویریږي چې د خپلو تجربو او د زندانونو د وضعیت اړوند خبرې وکړي.

### د ناوړه چلند او شکنجې عامې طریقې

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، تر ټولو ډېره شکنجه او ناوړه چلند د استخباراتو او امربالمعروف په ادارو کې ترسره کیږي او لکه څنګه چې شواهدو ښودلې ده، د (محبسونو) د عمومي زندانونو وضعیت د طالبانو تر کنټرول لاندې د آزادۍ د سلب د نورو ځایونو په پرتله ښه او شکنجه او ناوړه چلندونه یکې کم دي. د دې چارې تر ټولو مهم دلیل د مخکنیو کلونو د باتجربه او تعلیم یافته کارمندانو شتون دی.

د نارینه وو په تناسلي آلې پورې د کاڼي تړل، د بدن د غوښو شکول، په سیخ او ګرمو اوبو د بندیانو د بدن سوځول، په لوړه ساتل، په سختې ګرمۍ یا یخنۍ کې اچول، په لنده او تیاره خونه کې اچول، د ټوپک په ډز وېرول، مصنوعي ډوبول، د بندیانو په خوله کې د اوبو د پایپ ایښودل، داسې چې لومړی هغه کلک تړي او بیا په زوره اوبه ورکوي، د برق شاټ، د ډېر وخت لپاره په زوره ودرول، په غړیزي کړکتیا کې اچول، بې خوبي ورکول، په سوک او لغتو، کوټک، د اوبو پایپ، زنځیر او د ټوپک په قنداق وهل، د پښو په بندونو په کوټک وهل، د بندیانو سر ته پلاستیک ور اغوستل، په چت پورې ځړول، بربنډول، تر ستوني نیول او ساه بندول او د بندیانو او د هغوی د کورنیو د غړو په مرګ تهدیدول، ګرم سوځوونکي لمر ته د بندیانو اچول او خواړه نه ورکول، د طالبانو په زندانونو کې د شکنجې معمولي طریقې دي.

**له غزني ولایت څخه یو بندي ویلي چې: «دوه میاشتې د طالبانو د استخباراتو په نظارت خونه کې بندي وم. هغوی هره شپه شکنجه کولم، غوښتل یې د یو تن په وژنه اعتراف وکړم، حتا زما غاښونه یې په امبور وویستل. خو زه بې ګناه وم او دوه میاشتې وروسته له زندانه خوشې شوم. اوس مې روغتیایي وضعیت ښه نه دی او په لاره نشم تللی.»**

همدا راز ترلاسه شوي معلومات ښیي، چې طالبانو یو بل بندي په بامیان ولایت کې سخت شکنجه کړ تر دې چې غاښونه یې مات او یو ځل د روغتیایي وضعیت د خرابېدو له امله روغتون ته یوړل شو.

**له هلمند ولایت څخه یو تن رواداري سره په مرکه کې ویلي: «له کوره د دوکان په لور روان وم چې د استخباراتو موټر راته ودرېد، د نوم پوښتنه یې رانه وکړه او وروسته یې په موټر کې کېنولم. له هر څه وړاندې یې زما ټلفون واخیست، یوه یې رانه پوښتنه وکړه چې ورته خلاص یې کړم، د وټساپ شمېرې او د عکسونو البوم یې وکوت. کله چې یې زما ځینې عکسونه ولیدل چې په تېرو کلونو کې مې اخستي ؤ. په مخ یې کلکه څپېړه ووهلم او و یې ویل د کافر زو لا هم د هغو ورځو په نشه کې یې؟ وروسته یې د استخباراتو نظارت خونې ته یوړلم. د شپې نهه بجې دوه کسان راغلل او ویې ویل چې د وټساپ له لارې دې له مقاومت جبهې سره اړیکه نیولې. ما ورته وویل چې له هیڅ ډلې سره اړیکه نه لرم، خو ما ته یې د برق شاټونه راکړل او په لښتو یې تر دې حده وډبولم چې ټوله شپه مې و نشول کولای ویده شم. په بېلابېلو طریقو شکنجه شوم، کله چې یې زما پر ضد هیڅ سند پیدا نکړای شو، راته و یې ویل چې که دا ماجرا دې بل چا سره شریکه کړه بیا به بندي کړای شې.»**

یو مخکنی نظامي چې په غور ولایت کې نیول شوی او شکنجه شوی و، د خپلو تجربو په اړه یې ویلي: «دوه شپې او ورځې په یو کانتینر کې، له اوبو او خوړو پرته په سړه هوا کې په داسې حال کې چې لاسونه مې تړلي ؤ، وساتل شوم. بیا یې یوې تیارې خونې ته یوړم او له تړلو لاسونو یې وځړولم. دومره وډبول شوم چې بې هوښه شوم، کله چې په هوښ راغلم متوجه شوم چې په لاس کې یې راته سیروم لګولی. تر څو ورځو مې نشول کولای له ځایه پورته شم.»

له کابل ولایت څخه یو بل قرباني ویلي چې: «زه یې د یخو اوبو په بایلر کې غوټه کولم تر هغه وخته چې ساه به مې بنده شوه او نږدې وه چې ومرم. داسې یې په کیبل وهلم چې بې هوښه کېدم به. بیا یې په ټول زور سره په سوکانو او لغتو وهلم، زما قوم او ناموس ته یې کنځلې کولې، د سر وېښته یې راته شکول او په شپو شپو یې بې خوبه کولم... کله مې چې د بدن د شکنجې نښې د هغوی قاضي ته وښودلې هغه یې د لیدلو زغم نه درلود او مخ یې بل خوا واړاوه.»

**له پروان ولایت څخه یو بل قرباني ویلي چې: «دوه شپې د پولیسو په حوزه کې وم او سخت شکنجه او وډبول شوم. وروسته یې عمومي زندان ته انتقال کړم او یوه اونۍ په یوې تیارې خونې کې بندي وم. هغوی د بربښنا په لین او د اوبو په پایپ باندې شکنجه کولم او راته ویل چې وژل دې روا دي. له یوې میاشتې فزیکي او رواني شکنجې وروسته له بنده خوشې شوم.» همدا راز، د میدان وردګ له ولایت څخه یو مرکه شوي رواداري ته ویلي چې د کورنۍ یو غړی یې د طالبانو له خوا د سختې شکنجې له امله مغزي خونریزي پیدا کړې، چې اوس د تداوۍ او معالجې لاندې دی.**

هغه موارد چې توضیح شول د طالبانو تر کنټرول لاندې زندانونو کې د شکنجو د ټولو قضیو بېلګې دي، چې د ۲۰۲۴ کال په اوږدو کې خلکو ته ورکړل شوې دي او د رواداري له خوا مستندې شوې دي.

## د بندیانو وژل

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۲۰ تنه د طالبانو تر کنټرول لاندې زندانونو کې له سختې شکنجې وروسته وژل شوي او کم تر کمه ۱۳ تنه نور له شکنجې وروسته روغتون ته وړل شوي دي. رواداري په ۲۰۲۳ کال[15] کې ټول ۱۶ د شکنجې پېښې چې په قتل تمامې شوې دي، ثبت کړې وې. د دواړو ارقامو پرتله ښیي چې د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بندیانو وژل ۲۵ فیصده زیات شوي دي.

معلومات ښیي چې په ۲۰۲۴ کال کې د شکنجې تر ټولو ډېرې پېښې چې په قتل تمامې شوې دي د طالبانو د استخباراتو اداري په نظارت خونو کې پېښې شوې دي.




**د ۲۰۲۴ کال د اګست پر ۲۵مه نېټه د طالبانو استخباراتو د غور ولایت له مرکز څخه یو تن له داعش سره د همکارۍ په تور ونیو او بندي یې کړ. یاد کس له نیول کېدو دوه اونۍ وروسته د سختو شکنجو له امله د استخباراتو په نظارت خونه کې ووژل شو. معلومات ښیي چې طالبانو دا سړی سخت رټرولی او حتا سترګې یې ترې ویستې وې. د قرباني کورنۍ ویلي چې هغه نوی له ایران څخه هیواد ته ستون شوی و، او له هیڅ ډلې سره یې اړیکه نه درلوده. خو طالبانو تاکید کړی چې د دې کس تور له داعش ډلې سره مستقیمه اړیکه وه.**

د ۲۰۲۴ کال د اګست پر ۷مه نېټه، طالبانو یو مخکنی نظامي د پکتیکا په خیر کوټ ولسوالۍ کې ونیو او شکنجه یې کړ. د هغه تور په څاه کې د وسلې پټول ؤ. خو کله چې طالبان و نه توانېدل په څاه کې وسله پیدا کړي دا پخوانی نظامي یې په څاه کې وغورځاوه او و یې واژه.

**په یوه بله پېښه کې د همدې کال په اګست میاشت کې د هلمند ولایت یو اوسېدونکی چې د وسلې د پېر او پلور په تور نیول شوی و، د سختې شکنجې له امله د دې ولایت په عمومي زندان کې ومړ. همدا راز، د هلمند ولایت د امربالمعروف اداري یو ناروغ تعویذ لیکونکی ونیو او په سخته شکنجه او وهلو او ټکولو یې وواژه.**

د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر لومړۍ نېټه طالبانو یو تن د غور ولایت په مرکز کې له سلفیانو سره د همکارۍ په تور ونیو چې له یوې اونۍ وروسته یې مړی کورنۍ ته وسپارل شو. دې کس ۵۰ کاله عمر درلود او په سختې شکنجې سره د طالبانو په زندان کې ووژل شو. د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۷مه نېټه د غور ولایت د مرغاب ولسوالۍ دوه تنه اوسیدونکي چې داعش ډلې سره د همکارۍ په تور نیول شوي ؤ، د سختې شکنجې په پایله کې د طالبانو د استخباراتو په زندان کې ووژل شول.

له غور ولایت څخه یوې ښځې ویلي چې: «طالبانو مې خاوند د روږدو د درملنې کمپ ته یوړ، یو ځل یې لیدو ته ورغلم، ناروغ و، غوښتل مې هغه د درملنې لپاره روغتون ته بوځم، خو د دې کار اجازه یې رانکړه. څو ورځې وروسته یې بیا لیدو ته ورغلم، طالبانو راته وویل چې خاوند دې له کمپ څخه تښتېدلی دی، موږ کوښښ کوو چې هغه پیدا کړو او تاسو نور دلته مه راځئ. درې ورځې وروسته بیا کمپ ته ورغلم، خو دا ځل یې اجازه رانکړه چې کمپ ته ننوځم، و یې ویل نور نشې کولای دلته راشې، ځکه خاوند دې تښتېدلی دی. ټول ښار مې ولټاوه خو د هغه هیڅ نښه مې و نه مونده. یوه اونۍ وروسته یې یو دوست چې نوی له کمپ څخه رخصت شوی و، زمونږ کور ته راغی او ویې ویل، خاوند دې یخو اوبو لاندې شکنجه کاوه. وروسته هغه ناروغ شو او دوه شپې او ورځې پرله پسې یې کانګې کولې. یوه ورځ چې موږ سهار له خوبه راپاڅېدو و مو لیدل چې هغه مړ شوی دی. د کمپ نظامیانو هغه بهر یوړ او خاورو ته یې وسپاره. خو مونږ ته یې وویل چې حق نه لرئ د دې قضیې په اړه چا سره خبرې وکړئ.»

## له خوشې کېدو وروسته د بندیانو ځورول

یو شمېر مرکه شویو رواداري ته ویلي چې هغوی له زندان څخه تر خوشې کېدو وروسته لا هم د طالبانو تر تعقیب لاندې دي او تل ځورول کیږي. د بېلګې په توګه، له غزني ولایت څخه یو کس چې د ۲۰۲۴ کال په لومړیو کې د اسنادو د جعل په تور په کابل کې نیول شوی و، له څلور میاشتو بند او د پنځوس زره ۵۰۰۰۰ افغانیو په ورکولو له بنده خوشې شو؛ خو طالبانو بیا هم د هغه ځورولو ته دوام ورکړ. د استخباراتو کارکوونکي بیا بیا د هغه کورته ورتلل او هغه ته یې خبرداری ورکاوه چې یا دوه لکه افغانۍ ورکړي، یا طالبانو ته د هغو کسانو په اړه چې دوی یې غواړي، معلومات ورکړي. که دا هیڅ یو ونه منې بیا به ونیول شي. دې کس بالاخره په پټه افغانستان پرېښود.

هم مهاله، د هرات ولایت څخه یو کس چې د طالبانو له خوا د غلا په تور نیول شوی او بندي شوی و، دوه میاشتې وروسته پرېښودل شو؛ خو د زندان دوه تنه ساتونکي یې وروسته کور ته ورغلل او له هغه یې وغوښتل چې لس زره افغانۍ له دې امله چې د ده په خوشې کېدو کې یې رول درلود ورته ورکړي. خو یاد کس د طالبانو غوښتنه نه منله او استدلال یې کاوه چې محکمې یې پر بې ګناهۍ حکم کړی، او له زندانه خوشې شوی دی. له دې وروسته یې دا دوه تنه وهي او ځوروي یې او لس زره افغانۍ هم ترې اخلي.

همدا راز، له بامیان ولایت څخه هم مرکه شویو ویلي چې له زندانه یو شمېر خوشې شوي کسان لا هم د طالبانو د استخباراتو تر تعقیب لاندې دي او نشي کولای له دې ولایت څخه نورو ولایتونو ته سفر وکړي.



Photo (C) apnews.com, AP Felipe Dana

## د طالبانو د زندانونو د څارنې د میکانیزم نشتوالی

لکه څنګه چې د راپور په مخکنیو برخو کې هم مطرح شوه، دا مهال د طالبانو تر کنټرول لاندې د نظارت خونو، توقیف خونو او زندانونو، په ځانګړې ډول د ښځو د آزادۍ د سلب ځایونو څارنې ته هیڅ څارونکی او خپلواک بنسټ لاسرسی نه لري، او هم د بندیانو د بشري حقونو وضعیت او ستونزو ته د رسېدو لپاره هیڅ ځانګړی میکانیزم نشته.

که څه هم په یو شمېر ولایتونو کې لکه په هرات ولایت کې د امربالمعروف اداره او په یو شمېر سویل ختیځو ولایتونو کې د امربالمعروف، عدلیې وزات او د فرمانونو د څارنې او تعقیب د لوی ریاست او په وروستیو کې د زندانونو د چارو اداري د استازو یوه کمېټه د نارینه وو د آزادۍ د سلب ځایونو ته ورځي؛ خو دوی په لویه کې بندیانو ته دیني زده کړې ورکوي. سره له دې، په کندهار، هلمند او زابل ولایتونو کې «د فرمانونو او احکامو د څارنې لوی ریاست» ته د آزادۍ د سلب ځایونو د څارنې دنده ورکړل شوې، خو هغه معلومات چې رواداري ترلاسه کړي دي، ښیي چې د زندان مسئولین د څارنې اجازه نه ورکوي، او حتا څو ځل یې د دې اداري کارکوونکي د کندهار ولایت له عمومي زندان څخه ویستلي دي.

په همدې حال کې، د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر پر لومړۍ نېټه د ملګرو ملتونو سازمان مرستیال پلاوی، (یوناما) اعلان کړی چې د طالبانو د زندانونو د چارو د تنظیم اداري ژمنه کړې چې د دې بنسټ د بشري حقونو ډلې ته به د ښځو د زندانونو په ګډون د هیواد ټولو زندانونو ته د لازم لاسرسي اجازه ورکړي.[16] خو د دې راپور موندنې ښیي چې یوناما تر اوسه د پولیسو، استخباراتو او امربالمعروف نظارت خونو ته په هیڅ ولایت کې د لاسرسي اجازه نه لري، او هم نشي کولای په ناڅاپي ډول او د مسئولینو له مخکې تره مخکې اجازې او همغږۍ پرته د عمومي زندانونو (محبسونو) څارنه وکړي.

د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د یوناما کارکوونکو د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې د سیمه ییزو مسئولینو په همغږۍ او مخکې تر مخکې اجازې وروسته د بادغیس، بدخشان، دایکندي، خوست، پکتیا او پکتیکا ولایتونو د نارینه او ښځینه عمومي زندانونو څارنه کړې، او بندیانو سره یې خبرې کړې دي. خو په یو شمېر نورو ولایتونو کې لکه بامیان، بلخ، غزني، سرپل، پروان، فاریاب، فراه او نیمروز ولایتونو کې یې لا هم د څارنې اجازه نه ده ترلاسه کړې. په کندهار، هلمند او غور ولایتونو کې د یوناما کارکوونکي کولای شي د زندان د مدیر د کار په دفتر کې له یو شمېر نارینه او ښځینه زندانیانو سره مرکې وکړي. په میدان وردګ او لوګر ولایتونو کې یواځې د زندان له مدیر سره د لیدنې اجازه لري. په دایکندي ولایت کې د یوناما د بشر حقونو د برخې کارکوونکو یو ځل د طالبانو د والي په دفتر کې د دې ولایت د استخباراتو له رئیس سره لیدلي او د دې اداري د نظارت خونې د وضعیت په اړه یې ترې معلومات اخستي دي.

## د ښځینه زندانونو ستونزې

**د دې راپور د موندنو پر بنسټ، په ډېری ښځینه زندانونو کې هیڅ ښځینه کارکوونکې نشته او یواځې ډېر کم شمېر ښځې او هغه هم په عمومي زندانونو کې د ساتونکو یا د مراجعینو د تلاشي کوونکو په توګه کار کوي، چې هغوی هم د شپې له خوا خپلو کورونو ته ستنیږي.**

په دې کې د امربالمعروف اداري نظارت خونې چې د آزادۍ د سلب د نورو ځایونو په پرتله ډېری بندیان یې ښځې دي، حتا یوه ښځه کارمنده هم نه لري، چې د ساتونکي یا د اړتیا وړ خدماتو وړاندې کولو مسئولیت پر غاړه ولري.

له بل پلوه طالبان په یو شمېر ولایتونو کې د ښځینه بندیانو کورنیو ته د ملاقات اجازه نه ورکوي او په دې ترتیب د ښځینه وو د آزادۍ د سلب په ځایونو کې د نارینه وو په نسبت وضعه شوي محدودیتونه څو چنده زیات دي.

همدا راز، په یو شمېر ولایتونو کې طالبانو د ماشومانو د اصلاح او تربیې مرکزونه عمومي محابسو ته لېږدولي او نجونې ماشوماني له ښځینه زندانیانو سره یوځای ساتل کیږي. دا مسئله سره له دې چې د حقوق بشري موازینو او د آزادۍ د سلب د ځایونو د اړوندو معیارونو خلاف چاره ګڼل کیږي، همدا راز کولای شي پر ماشومانو زیانمنوونکې رواني او تربیوي اغېزې ولري، او هم هغوی د جنسي ناوړې ګټې اخستنې او نورو ستونزو سره مخامخ کړي.

د غور ولایت له عمومي زندان څخه ترلاسه شوي معلومات ښيي چې د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې کم تر کمه دوه ښځې بندیانې چې د ۱۹ او ۳۰ کلونو تر منځ عمرونه لري، په جبر سره د دې زندان د یو کارکوونکي او یو بل کس چې د زندان د مدیر نږدې ملګری دی په نکاح ورکړل شوې دي، او بیا خوشې شوې دي. عیني شاهدانو ویلي چې دې دوو ښځو واده ته رضایت نه درلود خو د زندان ملا امام د هغوی رضایت ته له پاملرنې پرته د هغوی نکاح وتړله. همدا راز، له دې ولایت څخه خوشې شوې یوې بندي ښځې معلومات ورکړي چې په ښځو بندیانو کې داسې ښځې هم وې چې د طالبانو د غوښتنو د نه منلو له امله بندیانې شوې وې.

په همدې حال کې، طالبانو د بدخشان ولایت په شهدا ولسوالۍ کې درې نجونې «له هلکانو سره د عاشقانه اړیکو» په تور ونیولې او بندیانې کړې. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، طالبانو له دې نجونو غوښتي چې د دوی له سرتیرو سره واده وکړي. په یوه بله پېښه کې په نیمروز ولایت کې د امربالمعروف مامورینو یوه ښځه د محرم نه درلودلو په تور ونیوله او څو ساعته وروسته یې خوشې کړه. د امربالمعروف د مامورینو یو تن دې ښځې ته خپله د ټلفون شمېره ورکړې او ورته ویلي یې دي چې دوه ښځې لري او غواړي چې درېیمې ښځې سره هم واده وکړي. یاد کس له دې ښځې غوښتي چې په دې برخه کې ورسره مرسته وکړي.

## ب- د ظالمانه او غیرانساني مجازاتو پلي کول

طالبانو د راپور ورکولو په دې دوره کې کم تر کمه ۵۲۴ تنه ډېری له کوره د تېښتې، له واده بهر اړیکې، غلا، توهین او فریب په تور په دُرو وهلي، چې دا شمېر د تېر کال په نسبت چې ۹۴۲ پېښې وې ۴۴.۳ فیصده کم شوی دی. سربېره پر دې، په ۲۰۲۴ کال کې د طالبانو محکمو کم تر کمه په قتل د دوو تورنو کسانو، او له واده بهر په اړیکې د تورنو دوو ښځو د سنګسار حکمونه صادر کړي او د یوې بلې ښځې د سنګسار حکم یې د له واده بهر د اړیکې په تور صار کړی دی.

معلومات ښيي چې طالبان د هر ډول جرایمو اړوند د دُرو وهلو جزا د تکمیلي سزا په توګه پلي کوي، چې ډېری دغه سزاګانې له عامو خلکو او رسنیو څخه په پټه پلې کیږي. په هغو مواردو کې چې محکمې د دُرو وهلو سزا، په ځانګړي ډول د اخلاقي جرائمو اړوند په علني ډول پلي کوي، د امربالمعروف مامورین او د مسجدونو امامان څو ورځې مخکې ورته اعلانونه کوي. د امربالمعروف مامورین ښار په ښار او کلي په کلي په لاسپیکرونو کې د سزا ورکولو د صحنې لیدلو ته خلک تشویقوي چې په ځینو مواردو کې ډېری تماشاچیان ماشومان او د دیني مدرسو زده کوونکي وي.

طالبان د تورنو کسانو هویت، د هغو کسانو په ګډون چې په غیراخلاقي جرمونو او غلا تورن شوي وي د دُرو وهلو د جزا د پلي کولو په وخت کې په جزئیاتو سره خپروي او اعلانوي یې. په داسې حال کې چې د تورنو د هویت تشهیر په دې مواردو کې د قانون له مخې منعه دی او انساني کرامت، حیثیت او اعتبار ته د ضرر رسېدو لامل کیږي.

**د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲مه نېټه، طالبانو د غزني ولایت په اندړ ولسوالۍ کې یو سړی د سلګونو تماشاچیانو پر وړاندې ۳۹ دُرې وواهه. د امربالمعروف مامورینو مخکې تر مخکې د یو**

**پروګرام په خپرولو خلک د دې صحنې د ليدلو لپاره وربللي ؤ. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۲۵مه، د طالبانو محکمې د هرات ولايت په اوبه ولسوالۍ کې يوه ښځه او يو سړی له واده بهر د جنسي اړيکې په تور په عام محضر کې ۳۹ دُرې ووهل. تورن کسان همدا راز په شپږ کاله بند محکوم شول. د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر ۱۱مه د غزني ولايت ابتدائيه محکمې اته کسان د شپږ مياشتو بند له سزا وروسته «ښځو سره د نامشروع تلفوني اړيکو» په تور د هغوی د کورنۍ د غړو په حضور کې او له رسنيو او خلکو پټ ۳۹ دُرې ووهل.**

هم مهاله، د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۱۲مه، طالبانو اته تنه ځوان هلکان د يوې ورځې لپاره بنديان کړل او د خلکو په مخکې يې ويښته وربانديې وخريل. دا کسان د ښځو په زورولو تورن شوي ؤ. سربېره پر دې، داسې موارد هم شته چې طالبانو يو شمېر بنديان په تبعيد او د هېواد په پرېښودو محکوم کړي دي. د بېلګې په توګه له غزني ولايت څخه يو مرکه شوي ويلي چې د طالبانو محکمې يې دوه زامن په حزب التحرير کې د غړيتوب په تور په دوه نيم کاله بند او تبعيد محکوم کړي دي. د محکمې په پرېکړه کې راغلي چې دا کسان د خپل بند له مودې بشپړولو وروسته له افغانستان څخه تبعيدېږي او تر هغه وخته چې طالبان په واک کې وي، دوی نشي کولای هېواد ته راستانه شي.

## د سوله ييزو راټولېدنو ځپل

طالبان د خپلو سياستونو هر ډول انتقاد او نيوکه له زور او تاوتريخوالي څخه په ګټې اخستنې ځپي. لکه د ۲۰۲۴ کال په بهير کې طالبانو له ۲۷ راټولېدونو څخه کم تر کمه ۲۲ اعتراضي راټولېدنې په تاوتريخوالي سره ځپلې دي، او کم تر کمه ۴۲ معترضان يې نيولي او ۲ تنه يې وژلي دي. له هغو راټولېدونو څخه چې په دې موده کې شوي دي ۵ يې د طالبانو په ملاتړ او نورې د شته ستونزو او نيمګړتياوو په اعتراض کې وې، لکه د تعليم او تحصيل له حق څخه د ښځو او نجونو د محروميت په اړه ترسره شوې دي.



Photo (C) Marcus Yam / Los Angeles Times



## دويمه برخه

# د ښځو حقوق بشري وضعیت

د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې، طالبانو لا هم د هیواد د ښځو او نجونو پر ضد خپلو تبعیضي سیاستونو پلي کولو ته دوام ورکړی او په ځانګړي ډول «د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون» په وضعه کولو سره یې لا نورې ننګونې او محدودیتونه خپلو حقونو او آزادیو ته د ښځو پر لاسرسي اعمال کړي دي. د ترلاسه شویو شواهدو پر بنسټ، د دې قانون د پلي کولو اغېزې د دې هیواد د ښځو او نجونو د ژوند پر ټولو ابعادو سیوری غوړولی او په بېلابېلو برخو کې د تبعیض د سختوالی لامل شوی.

د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړي راپور هم ویلي چې د تبعیض، بېلولو، د انساني کرامت د بې احترامۍ او حذف نظام چې د طالبانو له خوا په پراخ او سازمان شوي ډول پلی کېږي، د سیاستونو، فرمانونو او جبر له لارې پلی کیږي.[17]

د راپور په دې برخه کې په مشخص ډول د تعلیم حق، د کار حق، د آزاد تګ راتګ حق، او په ۲۰۲۴ کال کې روغتیایي خدماتو او عدالت ته د ښځو د لاسرسي پر حقونوبحث کیږي.

## د تعلیم پر حق د محدودیتونو سختېدل

د تعلیم حق د وګړو تر ټولو مهم بشري حق ګڼل کیږي چې د بشر حقونو بین المللي اسنادو په رسمیت پېژندلی او تعلیمي او تحصیلي فرصتونو ته د وګړو د مساوي او برابر لاسرسي پر اړتیا یې تاکید کړی.[18] د یادو اسنادو له مخې، د جنسیت یا په نورو دلایلو له دې حق څخه په برخمنېدو کې هر ډول تبعیض ته قائلېدل، له یادو مقرراتو څخه سرغړونه او د بشر حقونو نقض ګڼل کیږي. سره له دې، طالبانو د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه په تدریجي، سازمان شویو او هدفي اقداماتو سره د ډېر شمېر فرمانونو، احکامو او اعلامیو له لارې د افغانو ښځو او نجونو د تعلیم حق سلب کړی دی.[19]

د دې راپور موندنې ښيي چې حاکمې ډلې د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې او په ځانګړي ډول «د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون» له خپرېدو وروسته د مخکنیو محدودیتونو د سختېدو اقدام کړی او په دې ترتیب یې د تعلیم او تحصیل ټولې لارې د ښځو پر مخ تړلې دي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۲مه نېټه، طالبانو د تعلیم له حق څخه د ښځو د عمدي محرومیت پر دوام په یو بل تبعیضي تصمیم کې عالي او نیمه عالي تحصیلي موسسو ته امر وکړ چې په دې مرکزونو کې د ښځو او نجونو تحصیل ودروي. دا اقدام د دې هیواد د ښځو او نجونو د حقونو او آزادیو د هدفي ځپنې پر دوام د طالبانو د تاکید ښکاره نښه ده.[20]

د تعلیم له حق څخه د ښځو قصدي او هدفي محرومولو د ښځو پر ژوند نه جبرانېدونکې او زیان رسوونکې اغېزې درلودلې دي. د بېلګې په توګه، له کندهار حوزې څخه

یوې محصلې ویلي چې: «زه د وروستي کال محصله وم چې طبي انسټیټونه یې وتړل، څو ورځې وروسته مې پلار راته وویل، اوس چې د درس ویلو اجازه نه لرې، څه تصمیم لرې؟ ما ورته وویل چې په کور کې مطالعې ته دوام ورکوم او هیله لرم چې یوه ورځ بیا د درس او تحصیل زمینه راته برابره شي. پلار مې وویل چې وخت دې تیریږي، او باید د راتلونکي ژوند په اړه دې تصمیم و نیسم. ما و نه منله، خو څو ورځې وروسته یې د یو ملګري زوی ته په نکاح کړم. له هغې وروسته مې ټولې هیلې چې د تحصیل د دوام لپاره مې درلودې، له منځه لاړې.»

**یوه بله ښځه چې د کور ناوې او لور یې د یو طبي انسټیټوټ محصلینې وې د طالبانو د وروستي تصمیم په اړه یې ویلي: «... خدای دې دوی ورک کړي، د ناوې او لور هیلې مې له خاورو سره خاورې شوې. هره ورځ ژاړي، ناکراره دي، نه څه خوري او نه څښي. زه بیخي لېونۍ شوې یم او هیڅ ځواب نه ورته لرم. فقط ځان مې خدای ته سپارلی، نه د تېښتې لاره لرو او نه دلته ژوند کولای شو. دې ظالمانو وطن په جهنم بدل کړی دی.»**

له غزني ولایت څه یوې محصلې ویلي: «موږ نجونې بدبختې یوو، زه د کمپیوټر ساینس پوهنځي د څلورم سمستر محصله وم چې پوهنتونونه وتړل شول. دا چې درس سره مې ډېره علاقه درلوده، پلار مې په یو طبي انسټیټیوټ کې زما نوملیکنه وکړه، تر دریېم سمستر مې درس ووایه چې دا ځل یې انسټیټیوټونه وتړل. یوه نړۍ هیلې مې درلودې، کاشکې یې پرېښې وای چې همدا وروستی سمستر مې هم لوستی وای. ورور مې ډاکټر دی او ما هم غوښتل چې د هغه په څېر ډاکټره شم او یوځای ورسره کار وکړم. اوس هره ورځ چې هغه ورځې رایادوم چې کولای مې شول درس ووایم ، ژاړم. دا وطن مونږ لپاره د زندان په څېر شوی دی.»

**هم مهاله، طالبانو د هغو ښوونځیو د تړلو اقدام کړی چې په پټه یې له ښوونځي او پوهنتون څخه محرومو نجونو ته د تعلیم فرصت برابر کړی و، او په دې ترتیب د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې یې د پټو او انلاین ښوونځیو په ګډون ۳۱ تعلیمي خصوصي مرکزونه د هیواد په بېلابېلو هیوادونو کې تړلي دي، او د دې مرکزونو کم تر کمه ۴۰ تنه مدیران او ښوونکي یې نیولي او بندیان کړي دي.**

د بېلګې په توګه، په بادغیس ولایت کې د امربالمعروف اداري د ۲۰۲۴ کال په سپتامبر کې د یو تعلیمي مرکز فعالیت چې نجونو لپاره یې د انګلیسي ژبې د زده کړې زمینه برابره کړې وه، وتاړه. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال په جولای میاشت کې د طالبانو استخباراتو په غور ولایت کې د یو ښوونځي مسئول د یوې میاشتې لپاره بندي کړ چې له شپږم ټولګي څخه پورته یې نجونو ته د درس زمینه برابره کړې وه. د ۲۰۲۴ کال د اګست پر ۷مه نېټه یوه ښځه چې په پټه یې په غور ولایت کې نجونو ته د انګلیسي ژبې او خیاطۍ زده کړه ورکوله د استخباراتو له خوا په نښه او ونیول شوه. طالبانو هغه ۲۴ ساعته وروسته له زندانه خوشې کړه او ښوونځی یې وروتاړه.

د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په میاشت کې طالبانو یو لوی تعلیمي مرکز چې په کندهار ولایت کې یې له لسو کلونو را پدېخوا یتیمو او بې سرپرسته ماشومانو ته زده کړه ورکوله، وتاړه. سیمه ییزو مسئولینو ورته ویلي، چې د دې مرکز اړوند تعمیر او ځای یوې دیني مدرسې ته ځانګړی شوی او هغه زده کوونکي چې نه غواړي مذهبي تعلیم وکړي ژر تر ژره دې دا ځای پرېږدي. دا کار د ښوونکو او لسګونو زده کوونکو له اعتراض سره مخ شو؛ خو طالبانو د هغوی اعتراض په تاوتریخوالي سره وځاپه او د دې مرکز دوه مسئولین او استادان یې هم ونیول. په یوه بله پېښه کې، د ۲۰۲۴ کال په اکتوبر کې په غزني ولایت کې یو ښوونیز مرکز چې نجونو ته یې د انګلیسي، کمپیوټر او خیاطۍ زده کړه ورکوله د طالبانو له خوا وتړل شو. همدا راز،

**د ۲۰۲۴ کال په نوامبر میاشت کې طالبانو په هرات ولایت کې د یو تعلیمي مرکز مسئول له شپږم ټولګي څخه د پورته نجونو د زده کړو له امله ونیو، چې څو ورځې وروسته او د ضمانت په وراندې کولو خوشې شو. د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر ۱۰مه نېټه د طالبانو د پوهنې اداري د امربالمعروف اداري په امر د کنړ ولایت په غازي آباد ولسوالۍ کې دوه تعلیمي مرکزونه چې له شپږم ټولګي پورته نجونو ته یې عصري او دیني زده کړه ورکوله، وتړل.**

له بل پلوه، د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر ۲۸مه نېټه د ملګرو ملتونو سازمان د ماشومانو صندوق (یونسف) د طالبانو په امر د سیمه ییزو تعلیماتو ټولګي چې د بامیان ولایت په لرو پرتو سیمو کې وُ، وتړل. له تعلیم څخه پاتې سلګونه نجونو په دې ټولګیو کې درس لوست. همدا راز، په پروان ولایت کې یوه نادولتي موسسه چې مخکې یې تر شپږم ټولګي له تعلیم څخه پاتې شویو نجونو ته زده کړه ورکوله، د طالبانو د فشار په پایله کې یې خپل ښوونیز پروګرامونه له څلورم ټولګي ښکته نجونو ته محدود کړل.

طالبانو په کندهار او بادغیس ولایتونو کې حتا په فني او حرفه یي زده کړو، روغتیایي، رواني او کورنیو ستونزو ته د رسیدو اړوند د عامه پوهاوي په پروګرامونو کې ګډون هم منعه کړی دی.

## د کار له حق څخه د محرومیت دوام

د کار او بوختیا منصفانه شرایطو ته د لاسرسي حق د هر وګړي د انساني حقونو برخه ده چې دا حق د بشر حقونو په ډېر شمېر بین المللي اسنادو کې تضمین شوی دی. پر همدې دلیل له دې حق څخه په برخه منبدو کې هر ډول تبعیض او د جنسیت او قومي، مذهبي او ژبنیو تړلتیاوو پر بنسټ تبعیض ته قائلیدل د قانون له مخې منعه دي او د بشر حقونو نقض ګڼل کیږي.[21]

سره له دې، طالبانو قدرت ته له راستنېدو څخه د ښځو د کار د حق اړوند هم محدودیتونه او تبعیضي شرایط ټاکلي او پلي کړي دي. لکه، دا مهال ښځې یواځې په تعلیمي، روغتیایي او محدودو امنیتي برخو کې د امربالمعروف د سختو شرایطو په رعایت سره کولای شي کار وکړي. په دې برخه کې، د طالبانو د اقتصاد وزارت د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۲۴مه نېټه داخلي او خارجي موسسو ته د یو لیک په لیږلو له هغوی څخه غوښتي چې د ښځو له استخدام او د کار په ځای کې دهغوی له حضور څخه ډډه وکړي او په افغانستان کې د ښځو د کار د حق د منعه کولو اړوند د طالبانو پر فرمان عمل وکړي. په دې لیک کې یادو موسسو ته خبرداری ورکړل شول چې د ښځو د استخدام او د کار په ځای کې د حضور په صورت کې به یې د کار جواز لغوه او فعالیت به یې ودرول شي.

د دې راپور موندنې ښیي چې د هرې ورځې په تېرېدو سره په ځانګړې ډول د امربالمعروف له نوي قانون وروسته، د ښځو لپاره په ښوونیزو او روغتیایي برخو کې هم د کار شرایط لا سخت شوي او غیرانساني شوي دي. د دې قانون پر بنسټ، هغه ښځې چې په روغتونونو او روغتیایي مرکزونو کې کار کوي باید یو نارینه شرعي محرم له ځان سره ولري، پرته له دې د کار په شرایطو برابر نه دي. دا شرط چې دا مهال د هیواد په ډېری ولایتونو کې عملي کېږي، د کار حق ته د ښځو د لاسرسي د لا محدودېدو او کورنیو ته د جدي ستونزو د راولاړېدو سبب شوی.

سره له دې، هغه ښځې چې په یادو برخو کې کار کوي اجازه نه لري چې په تصمیم یونو کې ګډون وکړي. د بېلګې په توګه، له بادغیس ولایت څخه مرکه کوونکو ویلي چې په روغتیایي او تعلیمي بنسټونو کې د ښځو کارکوونکو لاسلیک اعتبار نه لري، هغوی نشي کولای په کاري ناستو کې ګډون وکړي او هم نشي کولای بانکي حساب ولري.

**سربېره پر دې، له محرم پرته ښځې حتا که د کورنۍ یواځنۍ روزي ګټونکي وي، اجازه نه لري چې د کار لپاره له کوره بهر ووځي. د بېلګې په توګه له کندهار حوزې څخه یوه څلویښت کلنه ښځه چې د خپلو بچیانو یواځنۍ روزي ګټونکې ده، رواداري ته یې ویلي چې د خپلو بچیانو د ملاتړ او د اړتیا وړ لګښتونو د تامین لپاره د ښځو د سینګار لوازم د خلکو کورونو ته وروړي او پلوري یې؛ خو د امربالمعروف مامورینو هغه د محرم نه درلودلو له امله له کار څخه منعه کړې ده.**

همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د اګست پر ۱۲مه او۱۵مه، د طالبانو استخباراتو په دایکندي ولایت کې دوه نجونې چې خیاطي یې درلوده، په نښه او ونیولې.

هغه څه ته په پاملرنې چې پورته مطرح شول، د امربالمعروف د قانون پلي کول په واقعیت کې له ټولنیز ژوند څخه د ښځو د بشپړ حذفولو او د هغوی د حقونو او آزادیو د نقض په برخه کې د طالبانو سازمان شوي او هدفي هڅې ګڼل کیږي، چې دا مهال په پراخه توګه پلي کیږي. لکه څنګه چې د امربالمعروف کارکوونکي په پرله پسې توګه په روغتونونو او تعلیمي مرکزونو کې څارنه کوي چې د دې قانون له پلي کېدو ډاډ ترلاسه کړي. پر همدې بنسټ، د یاد قانون له پلي کولو څخه راولاړ شوي سخت شرایط په افغانستان کې د ښځو انساني کرامت ته ښکاره بې حرمتي ګڼل کیږي چې طالبان یې په دیني توجیه او تهدید او ویرولو سره عملي کوي.

## روغتیایي خدمتونو ته محدود لاسرسی

بېلابېلو بین المللي اسنادو او ترونونو روغتیایي خدماتو او مراقبتونو ته اغېزناک لاسرسی د ټولو وګړو لپاره د یو بشري حق په توګه تضمین کړی دی. له دې حق څخه د جنسیت یا نورو دلایلو پر بنسټ د وګړو قصدي محرومیت د قانون له مخې منعه دی او د بشر حقونو نقض ګڼل کیږي. د همدې له مخې، ژمن دولتونه باید روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي د اسانتیا لپاره لازم اقدامات ترسره کړي.[22]

سره له دې، د دې راپور موندنې ښیي چې په ۲۰۲۴ کال کې روغتیایي او درملیزو خدمتونو ته د ښځو لاسرسی د طالبانو له خوا د وضعه شویو تبعیضي او سختو شرایطو له امله، په ټول هیواد او په ځانګړې ډول په کلیو او لرو



همدا راز، طالبانو په روغتونونو او روغتیایي مرکزونو کې د نرانو او ښځو اختلاط منعه کړی او د ښځو او نرانو برخې يې په بشپړ ډول سره جدا کړې دي. پر همدې بنسټ ښځې باید د روغتیایي خدمتونو ترلاسه کولو لپاره د دې مرکزونو ښځینه برخو ته مراجعه وکړي او په هغو مواردو کې چې د درملنې لپاره نارینه ډاکټرانو ته د مراجعې اړتیا وي باید شرعي محرم او د امربالمعروف له خوا ټاکل شوی حجاب ولري؛ خو اجازه نه لري چې له نارینه ډاکټر سره مخامخ خبرې وکړي. هر ډول مکالمه د هغو نرانو په واسطه ترسره کیږي چې له ښځو سره ملتیا کوي.

پرتو سیمو کې، لا بدتر شوی دی. ځکه له یو لوري په روغتیایي مرکزونو کې د ښځو کارکوونکو شمېر کم شوی او له بل پلوه روغتیایي خدماتو ته د ښځو په لاسرسي کې طالبانو سخت محدودیتونه او خنډونه رامنځته کړي دي. لکه، د امربالمعروف د قانون پر بنسټ ښځې باید له شرعي محرم پرته د روغتیایي خدماتو ترلاسه کولو لپاره روغتونونو او نورو روغتیایي مرکزونو ته لاړې نه شي. همدا راز، په یو شمېر ولایتونو کې ښځې باید دستکشې، ماسک او حجاب چې د امربالمعروف اداره یې وایي ولري چې بیا دې مرکزونو ته د تلو اجازه پیدا کړي. د امربالمعروف کارکوونکي په منظمه توګه ټول دغه مراکز څاري او د یادو مقرراتو د هر ډول سرغړونې مخه نیسي.

**لکه، د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۳مه نېټه د امربالمعروف مامورین په غزني ولایت کې یو روغتیایي مرکز ته ورغلل او محرم او «مناسب حجاب» نه درلودونکې ښځې یې وشړلې. هغوی همدا راز د دې مرکز مسئولینو ته خبرداری ورکړ چې په راتلونکي کې د محرم او «مناسب حجاب» نه درلودونکو ښځو ته د هر ډول روغتیایي خدمتونو له وړاندي کولو څخه ډډه وکړي.**

له بل پلوه، هغه ښځې چې په دولتي روغتیایي مرکزونو کې کار کوي هم باید یاد مقررات رعایت کړي او له خپلو شرعي محارمو څخه یو نارینه باید ټوله ورځ ورسره وي. له یادو مواردو هر ډول سرغړونه، له کاره د شړلو او د سزا په نورو بڼو تماميږي.

د یادونې وړ ده چې د امربالمعروف اداري مقررات، لکه د روغتیایي خدماتو ترلاسه کولو لپاره د شرعي محرم درلودل، په بېلابېلو ولایتونو کې توپیر لري. د بېلګې په توګه، په یو شمېر ولایتونو کې ښځې د طالبانو له خوښې سره سم حجاب د رعایتولو په شرط، که شرعي محرم هم و نه لري کولای شي د درملیزو خدماتو ترلاسه کولو لپاره د روغتیایي مراکزو ښځینه برخو ته مراجعه وکړي، او د هیواد په ځینو برخو کې ښځې له شرعي محرم پرته کولای شي له یو ماشوم یا زړې ښځې سره دې مرکزونو ته مراجعه وکړي. همدا راز، د محرم درلودلو شرط د هغو ښځو لپاره چې په روغتیایي مرکزونو کې کار کوي په یو شمېر خصوصي مرکزونو کې لکه په کابل ښار کې نه عملي کیږي.

د هغو محدودیتونو سربېره چې پورته یاد شول، ترلاسه شوي معلومات ښيي چې طالبانو د کندهار په حوزه کې د نرسانو د معاشونو په ګډون د روغتیایي مرکزونو کارکوونکو معاشونه په جولای میاشت کې د میاشتې له ۱۸ زره افغانیو څخه ۶ زره افغانیو ته راښکته کړل. دا تصمیم د دې سبب شو چې د دې مراکزو تجربه لرونکی او مسلکي کسانو، ښځو او نرانو خپلې دندې پرېښودې. همدا راز، د هیواد په سویل حوزه کې د روغتیا د اداري او انکشاف موسسې (OHPM) د کار د جواز له لغوه کېدو وروسته د هغو روغتیایي مرکزونو فعالیت درول شوی یا له ستونزې سره مخ شوی چې مخکې یې د ماشوم او مور د روغتیا په برخه کې فعالیت درلود.

د کندهار په حوزه کې په روغتیایي مرکزونو کې له درملیزو امکاناتو څخه د سیمه ییزو قوماندانانو د ناوړې ګټې اخستنې راپورونه هم شته.

**د بېلګې په توګه یو مرکه شوي ویلي چې د سوتغذي ماشومانو اړوند درمل او غذایي مواد د طالبانو له خوا حیف و میل کیږي. د طالبانو سیمه ییز قوماندانان دا درمل د خپلو کورنیو لپاره وړي او په ځینو مواردو کې یې خپله مصرفوي، «ځکه باور لري چې د دې درملو کارول یې جنسي ځواک زیاتوي.»**

په همدې حال کې، د هیواد په یو شمېر نورو برخو کې، طالبان له درملتونونو څخه کانډمونه او د میندواری د مخنیوي درمل راټولوي او کارول یې منعه کړي دی. مرکه شویو ویلي چې طالبانو د خپل دې اقدام په توجیه کې ویلي چې «مسلمانې ښځې او نارینه باید ډېر ماشومان راوړي چې د حضرت محمد امت او پیروان زیات شي.» همدا راز، په هرات ولایت کې د امربالمعروف اداري

روغتونونو او دولتي او خصوصي روغتیایي مرکزونو ته امر کړی چې د ګُردې پیوندول او ویښتانو کرل ودروي، ځکه چې حرام او منعه دي.

سره له دې، یادو محدودیتونو روغتیایي او درملیزو خدمتونو ته د ښځو پر لاسرسي ناوړه او منفي اغېزې ښندلې دي او په ځانګړې ډول په لرې پرتو ولسوالیو او سیمو کې د وضعیت د لا خرابېدو لامل ګرځېدلي دي.

## د آزاد تګ راتګ د حق نقض

د آزاد تګ راتګ حق د بشر حقونو له خورا مهمو مصداقونو څخه دی، چې د وګړو آزاد او له خنډونو پرته تګ راتګ تضمینوي، که د هیواد په داخل کې وي او که بهر تګ راتګ کوي، او که په هره سیمه کې خپل د استوګنې ځای انتخابوي.[23] ژمن دولتونه دنده لري چې د تبعیضي اقداماتو نه ترسره کولو تر څنګ، د آزادانه تګ راتګ په برخه کې د ښځو حقونه له نرانو سره په مساوي ډول تضمین کړي.[24]

سره له دې، د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه را پدېخوا د حاکمې ډلې د تبعیضي سیاستونو او اقداماتو له امله د ښځو د آزاد تګ راتګ حق په پراخه توګه محدود شوی دی. لکه څنګه چې دا مهال ښځې تفریحي او ورزشي ځایونو، زیارتونو، پلورنځایونو او نورو عمومي ځایونو ته د آزاد تګ راتګ حق نه لري. نشي کولای له محرم پرته په رستورانتونو کې خواړه وخوري، د حمل و نقل له عمومي وسیلو څخه ګټه واخلي او د هیواد په داخل کې یا بهر سفر وکړي. دا محدودیتونه په وروستیو کې «د امربالمعروف او نهی عن المنکر» قانون د پلي کولو له امله سخت شوي هم دي. داسې چې ښځې نشي کولای د طالبانو د پام وړ حجاب او د یو نارینه شرعي محرم له کوره بهر حتا د لباسونو او غذایي موادو پېرلو لپاره ووځي. ښځې حق نه لري د نامحرمو نارینه ؤ په مخکې خبرې وکړي او شعر یا غزل ووایي. همدا راز، په یو شمېر ولایتونو کې ښځې نشي کولای د رسنیو په ژوندیو خپرونو کې ګډون وکړي او حتا نشي کولای په مذهبي پروګرامونو کې اړیکه ونیسي او رسنۍ هم اجازه نه لري چې په سوداګریزو اعلانونو او نورو پروګرامونو کې د ښځو غږ خپور کړي. ځکه «د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون» د ښځو غږ «عورت» ګڼلی او طالبان د خپل قانون دا حکم، لکه د دې راپور په مخکنیو برخو کې چې راغلي، په پراخه توګه پلی کوي.

هم مهاله، د ښار هټۍ او پلورنځایونه په محرم نه درلودونکو ښځو باندې د لباسونو او خوراکي توکو له پلورلو څخه منعه شوي دي، او که څوک د امربالمعروف اداري دې امر باندې عمل ونکړي، و به نیول شي او مجازات به شي. په دې اړوند د کندهار ولایت یو دوکاندار ویلي چې هغه یوې بې محرمه ښځې باندې د خوراکي توکو پلورلو له امله د امربالمعروف اداري له خوا ونیول شو او د یوې ورځې لپاره بندي شو. پر همدې بنسټ، دا مهال په کندهار، هلمند او زابل ولایتونو او د ختیځ په یو شمر برخو کې که ښځې د لباسونو یا خوراکي توکو پېرلو لپاره ښار ته ځي، باید یو محرم سړی ورسره وي او مخ یې هم بشپړ پوښلی وي. هغوی اجازه نه لري چې مخامخ له دوکاندار سره خبرې وکړي؛ بلکې هر ډول خبرې اترې او پوښتنې او ځواب باید د هغه نارینه له لارې وشي چې د دوی ملتیا کوي.

---

**په دې اړوند له غور ولایت څخه یوې ښځې ویلي: «مېړه مې په سفر تللی و، او زه د خوراکي توکو لپاره په داسې حال کې چې بشپړ حجاب مې درلود، بازار ته لاړم. خو د امربالمعروف له تاوتریخوالي څخه ډک چلند او سپکاوي سره مخامخ شوم. هغوی ما ته وویل چې ته د اخلاقي فساد لپاره له کوره راوتې یې او باید سزا درکړل شي. خو ما په ژړا او زارۍ هغوی ته وویل چې مېړه مې کور کې نشته او زه باید خوراکي توکي واخلم. د امربالمعروف مامورینو زما خبرو ته پام ونه کړ او په زوره یې بېرته کور ته ولېږلم پرته له دې چې څه شی واخلم.»**

---

د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر لومړۍ نېټه د طالبانو د امربالمعروف او نهی عن المنکر مامورینو په هرات ولایت کې یوه ښځه له یو پلورنځي څخه ونیوله او زندان ته یې ولېږدوله. طالبانو د هغې د نیولو لامل «نامشروع اړیکه» اعلان کړه. دا ښځه له یوې نیمې میاشتې وروسته

د سیمې د مشرانو په هڅو له بنده خوشې شوه. هغې ویلي چې: «بې ګناه د طالبانو له خوا ونیول شوم او اوس له کورنیو ستونزو سره مخاخ شوې یم؛ ځکه مېړه مې وايي چې ته یوه موده د طالبانو په بند کې وې او نوره زما ښځه نه یې.»

له همدې ولایت څخه یوې بلې ښځې هم ویلي: «د ۲۰۲۴ کال په ډسامبر میاشت کې کله چې له خپلو زامنو سره یو زیارت ته روانه وم، د دوو طالبانو له خوا مو مخه ونیول شوه. ما ترې وغوښتل چې اجازه راکړي زیارت ته ننوځو، خو هغوی وویل ته لوده بې خاونده ښځه زیارت ته نه یې راغلې بلکې فحاشۍ او یارانې ته راغلې یې. کله مې چې ځواب ورکړ چې زه مو لیدلې یم چې چا سره مې اړیکه درلوده؟ په قنداق یې په اوږه ووهلم، په ډُرو یې ووهلم او له زیارته یې وشړلم. د مېړه شمېره مې ورکړه. هغه ته یې وویل چې زیارت ته راشي، هغه چې راغی پوښتنه یې ترې وکړه چې دا ښځه دې څه کیږي؟ مېړه مې ځواب ورکړ چې ښځه مې ده. زما مېړه ته یې وویل چې پر تا دې د خدای لعنت وي چې ښځه دې یواځې پرېږدې چې زیارت ته لاړه شي، کله مې چې مېړه ورته وویل چې ولې زیارت ته تلل جرم دی؟ هغه یې هم وډباوه او ځان سره یې امربالمعروف ادارې ته بوتلو.

د امربالمعروف ادارې موټر چلوونکو ته هم امر کړی چې د محرم نه درلودونکو ښځو له وړلو ډډه وکړي او که څوک په دې امر عمل ونه کړي، سزا به ورکړل شي. سره له دې د دې راپور موندنې ښیي چې د ۲۰۲۴ کال په وروستیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۲۰ تنه زرنج چلوونکي د غزني ولایت په مرکز کې د محرم نه درلودونکو ښځو د وړلو په جرم نیول شوي او په موقت ډول بندیان شوي دي. په دې اړه یوناما هم په یو راپور کې ویلي چې د طالبانو د امربالمعروف او نهی عن المنکر مامورینو روغتیایي مرکزونو، دوکانونو، بازارونو او رستورانتونو ته امر کړی چې محرم نه درلودونکو ښځو ته خدمات وړاندې نه کړي.[25]

هغه یې د ۲۴ ساعتونو لپاره بندي کړ.» په یوه بله ورته پېښه کې، د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۲مه نېټه د طالبانو امربالمعروف ادراې مامورینو د غزني ولایت په جغتو ولسوالۍ کې یو زیارت ته د ښځو د ورتلو مخه ونیوله. هغوی وویل چې «په زیارتونو کې د ښځو شتون بدعت او د فحشا د ترویج سبب کیږي.» همدا راز له دایکندي ولایت څخه یوې ښځې ویلي چې د خوراکي توکو پېرلو لپاره ښار ته تللې وه او د محرم نه درلودلو له امله د امربالمعروف د کارکوونکو له خوا و نیول شوه او دې ادارې ته یې بوتله. هغه د مېړه له خوا د ضمانت په وړاندې کولو ببرته خوشې شوه.



**سربېره پر دې، د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر پر ۷مه نېټه د طالبانو د امربالمعروف اداري د غور ولایت په لعل و سرجنگل ولسوالۍ کې اعلان وکړ چې له دې وروسته «کونډې او سرپرست نه درلودونکې ښځې» له کوره بهر د تګ راتګ او کار حق نه لري او که داسې کومه ښځه د کار په ځای او بازار کې وليدل شي، و به نيول شي. دا امر وروسته د دې ولایت په ټولو ولسواليو کې هم اعلان شو.**

## عدالت ته د لاسرسي نشتوالی

د بشر حقونو بين المللي اسناد خپلواکو او بې پرې محکمو ته د ټولو وګړو ښځو او نارینه ۇ د لاسرسي د حق ملاتړ کوي.[26] ښځو سره د هر ډول تبعيض د مخنيوي کنوانسيون غړي دولتونه مکلف کړي دي چې د قانوني او اجرايي تدابيرو په نيولو سره عدالت، قانوني ملاتړونو، محکمو او قضايي بنسټونو ته برابر لاسرسی، د هغوی شکايتونو ته د رسېدو او د هغوی د حقونو د دفاع لپاره تضمين کړي.[27]

سره له دې، دا مهال د طالبانو په عدلي او قضايي نظام کې هيڅ حقوقي ميکانيزم نشته، چې د تاوتريخوالي او د بشر حقونو د نقض د قرباني ښځو ملاتړ وکړي، او شته سختو شرايطو ته په پام سره متضررې ښځې په ځانګړې ډول په لرې پرتو ولسواليو او سيمو کې عدالت غوښتنه او عدالت ته د لاسرسي امکان نه لري. ځکه له يوې خوا د طالبانو د امربالمعروف قانون ښځو ته له شرعي محرم پرته بهر د وتلو اجازه نه ورکوي او له بل پلوه، د طالبانو د عدلي او قضايي بنسټونو د تبعيضي چلند له امله، هغه ښځې چې له تاوتريخوالي او د بشر حقونو له نقض څخه متضررې شوې دي، نشي کولای په اغېزناک ډول له قانوني ملاتړونو برخمنې شي. پر همدې بنسټ، په افغانستان کې پر ښځو د تېل شويو ظلمونو او تاوتريخوالي لويې برخې ته هيڅ رسېدنه نه کيږي او قربانيان اړ دي چې و يې زغمي.

### الف- د طالبانو په عدلي او قضايي بنسټونو کې ښځو سره د تاوتريخوالي قربانيانو سره ناوړه چلند

د طالبانو يو قاضي ويلي «ښځو سره تاوتريخوالی او ناوړه چلند د ميړونو حق دی او ښځې بايد ترې شکايت و نکړي». يو بل قاضي باور لري چې «د تاوتريخوالي پر وړاندې د ښځو ملاتړ او په محکمو کې د هغوی شکايتونو ته رسېدنه د جمهوريت د وخت ميراث او د کورنۍ د ماتېدو لامل دی.» سره له دې، ترلاسه شوي معلومات ښيي، هغه ښځې چې د جدايۍ غوښتنه يا له کورنيو تاوتريخوالو څخه شکايت لري او د طالبانو محکمو ته مراجعه کوي، ډېرى مهال له تبعيضي، ناوړه چلند او سپکاوي سره مخامخيږي.

**د بېلګې په توګه له هرات ولایت څخه يو مرکه شوې ښځې ويلي، چې هغې له خپل خاوند څخه د طلاق غوښتنې په موخه محکمې ته مراجعه وکړه چې د قاضي له خوا سپکاوی ورته وشو. «... قاضي ماته وويل لاړه شه خپل مېړه سره دې ژوند وکړه، زه وخت نه لرم چې تا شيعه هزاره ښځې سره خپل وخت ضايع کړم.»**

له باميان ولایت څخه يوې ښځې ويلي چې «د خپل مېړه د تاوتريخوالي او ناوړه چلند له امله د طالبانو محکمې ته ورغلم. ما ته يې د خبرو وخت نه راکاوه او زما شکايت ته يې پاملرنه نه کوله. په همدې دليل مې اعتراض وکړ او دا د دې لامل شو چې له محکمې مې وشړي. قاضي ما ته «فاحشه او نجسه» وويل او و يې ويل «ستا په څېر ښځو اسلامي ټولنه خرابه کړې ده. دا دی اوس يوه ښځه د شريعت د حکم پر وړاندې اعتراض کوي.» له کندهار ولایت څخه يو مدافع وکيل ويلي چې له دې ولایت څخه يوې ښځې پر نشيې توکو د خپل مېړه د روږدي کېدو او پرله پسې تاوتريخوالي له امله محکمې ته شکايت وکړ او د بېلتون غوښتنه يې کړې وه. خو محکمې د دې ښځې د غوښتنې اورېدو ته هيڅ لېوالتيا و نه ښووده او هغه مجبوره شوه له خپل شکايت څخه تېره شي.

**په یوه بله پېښه کې له بادغیس ولایت څخه یوې ښځې چې د ناوړه چلند او تاوتریخوالي له امله یې د خپل پلار کور ته پناه وړې وه، د طالبانو له خوا و نیول شوه او بندي شوه. هغې د طلاق غوښتنه کړې وه او محکمې ویلي و چې خپل مېړه ته د اووه لکه افغانیووړکولو په بدل کې به د دې د خلع طلاق حکم وکړي او له زندانه به خوشې شي.**

هغه څه ته په پام سره چې پورته یې یادونه وشوه، د طالبانو محکمې په یو شمېر ولایتونو کې لکه کندهار، ارزګان او زابل کې د بېلتون او میراث اړوند د ښځو شکایتونو ته د رسېدو پروسه قصدا پېچلې کوي، چې ښځې د دې ډول شکایتونو ثبتولو لپاره محکمو ته له مراجعې ډډه وکړي. د بېلګې په توګه، په یادو مواردو کې د ښځو شکایتونو ته رسېدنه د شاهدانو د حاضرولو په شرط ده، چې په اوسنیو شرایطو کې امکان نه لري. که ښځې له ټولو مشکلاتو او محدودیتونو سره سره وتوانېږي محکمې ته شاهدان حاضر کړي، قاضیان معمولاً د هغوی ظاهر او د پوښاک ډول پلمه کوي او وایي، دا چې ظاهر یې «د سنت او شریعت خلاف دی» نو د شاهدی ورکولو صلاحیت نه لري.

## ب - د ښځو د میراث حق ته د رسېدنې لپاره د یو ډول طریقې نشتوالی

یواځنی مورد چې د طالبانو عدلي او قضایي بنسټونه پرې غور کوي، د میراث حق ته د لاسرسي لپاره د ښځو غوښتنه ده. خو د شرعي محارمو درلودلو د اړتیا په څېر ستونزو عملاً قضایي بنسټونو ته د هغوی لاسرسی محدود کړی دی. له بل پلوه، طالبان دې ډول دوسیو ته د رسېدو لپاره یو ډول طریقه نه لري. د بېلګې په توګه په ځینو ولایتونو کې د طالبانو محکمې ورته رسیدګي کوي او په ځینو نورو کې د امربالمعروف اداره یا جرګې او غیرقضایي بنسټونه ورته رسیدګي کوي.

په غزني، خوست، پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې د امربالمعروف اداري هم کورنیو تاوتریخوالو او هم د میراث اړوند دعوو ته رسیدنه کوي. په داسې حال کې چې په کندهار، زابل، هلمند او بامیان ولایتونو کې د طالبانو محکمې د میراث اړوند د ښځو شکایتونو ته د رسیدو صلاحیت نه لري. له بامیان ولایت څخه یو مرکه شوي ویلي چې د طالبانو محکمو د اونی یوه ورځ دې چارو ته ځانګړې کړې ده او ښځې د محرم درلودلو او د مخ پوښلو په شرط کولای شي محکمو ته حاضرې شي؛ خو حق نه لري چې له قضایي پلاوي سره چې ټول نارینه دي، خبرې وکړي. هغه څه چې دوی غواړي په ټیټ غږ او پرته له دې چې غږ یې واورېدل شي له خپلو نارینه وو ته چې ورسره راغلي دي وایي، او بیا یې هغوی قاضیانو سره شریکوي.

همدا رنګه، په یو شمېر ولایتونو کې، کورني تاوتریخوالي او د ښځو د میراث اړوند شکایتونه حتا که د طالبانو په رسمي بنسټونو کې هم ثبت شوي وي، د رسېدنې لپاره د جماتونو ملا امامانو، جرګو او نورو غیر قضایي بنسټونو ته راجع کیږي. سره له دې، په وروستیو کې د طالبانو د امربالمعروف وزارت اعلان وکړ چې د نفقې نه ورکولو، کورنیو تاوتریخوالو او د میراث حق لپاره یې د ښځو د شکایتونو د ثبتولو لپاره یوه د اړیکو شمېره ځانګړې کړې چې ښځې کولای شي ورسره اړیکه ونیسي او خپله غوښتنه او شکایت مطرح کړي.



## دربېمه برخه

# د متضررو قومي او مذهبي ډلو وضعیت

د دې راپور موندنې ښیي چې قومي او مذهبي اقلیتونه د هدفي بریدونو ښکار دي او دولتي خدمتونو ته په لاسرسي، بشردوستانه مرستو او ملي سرچینو او امکاناتو ته په لاسرسي کې له تبعیض او پراخو محدودیتونو سره مخامخ دي.

همدا راز، طالبانو د دولتي ادارو کارکوونکي د قومي، مذهبي، ژبنیو او ایډیالوژیکو معیارونو پر بنسټ استخدام کړي او ګوښه کړي دي. همدا راز، د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې هغوی متفاوت مذهبي افکار او عقاید ځپلي او په مذهبي مراسمو، اعمالو او مناسکو یې سخت شرایط وضعه کړي دي.

## پر قومي او مذهبي اقلیتونو هدفي بریدونه

که څه هم په ۲۰۲۱ کال کې د طالبانو په بیا واکمنېدو وسله والي جګړې او شخړې او په پایله کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله په ټول هیواد کې کمه شوې؛ خو پر قومي او مذهبي اقلیتونو هدفي تاوتریخوالي لا هم دوام لري. لکه، د ۲۰۲۴ کال د سپتامبر پر ۱۲مه نېټه وسله والو کسانو ۱۴ هزاره وګړي د دایکندي او غور ولایت په سرحدي سیمه کې د هغوی د قومي او مذهبي هویت له امله ووژل او ۶ تنه نور یې ټپیان کړل. داعش وروسته د دې برید مسئولیت پر غاړه واخیست.[28]

### د ۲۰۲۴ کال د جولای پر ۱۲مه نېټه طالبانو یو شیعه کس د هرات ولایت په جبریل ښارګوټي کې د عاشورا د عزادارۍ د بیرغ پورته کولو له امله د ټوپک په ډزو وواژه.

د ۲۰۲۴ کال د سپتامبر پر ۲۸مه نېټه، د غور- هرات پر لاره یو هزاره ځوان د نامعلومو کسانو له خوا ووژل شو او همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر ۳مه نېټه د سرپل ولایت په مرکز کې د شیعه ګانو پر مذهبي مراسمو یو برید کې کم تر کمه دوه تنه ووژل شول او ۲۰ تنه ټپیان شول. طالبانو وروسته اعلان وکړ چې په دې برید کې د لاس لرلو په تور یې د داعش ډلې شپږ تنه نیولي دي.[29]

همدا راز، د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر ۲۱مه نېټه د بغلان ولایت په نهرین ولسوالۍ کې وسله والو کسانو ۱۱ تنه د تصوف پیروان د عبادت پر مهال ووژل. د خراسان ولایت اسلامي دولت د دې برید مسئولیت پر غاړه واخیست.[30]

## د دولتي خدماتو په وړاندې کولو کې له قومي او مذهبي ډلو سره تبعیض

په داسې حال کې چې د بشر حقونو بین المللي اسنادو د نژاد، جنس، ژبې او مذهب له مخې له هر ډول تبعیض څخه پر خوندیتوب او په ځانګړې ډول په ټولو مادي او معنوي برخو کې سرچینو او فرصتونو ته پر برابر لاسرسي تاکید کړی.[31] خو د دې راپور موندنې ښیي چې طالبانو ضررمنونکې قومي او مذهبي ډلې په قصدي او تبعیضي ډول دولتي خدماتو، انکشافي پروژو، بشرپالو مرستو او ملي سرچینو ته له لاسرسي څخه محرومې کړې دي.

د بېلګې په توګه، په بدخشان ولایت کې طالبانو په هغو سیمو کې چې هلته د اسماعیلیه مذهب پیروان ژوند کوي، هیڅ انکشافي پروژه نه ده تطبیق کړې او په دې ترتیب یې هغوی له دولتي خدماتو څخه په تبعیضي ډول محروم کړي دی. مرکه شویو ویلي چې په تېرو څلورو کلونو کې ډېری پروژې په وردوج ولسوالۍ کې چې د دې ډلې د دوو چارواکو د زېږېدو ځای دی، پلې شوې دي. په فراه او نیمروز ولایتونو کې هم طالبان د امکاناتو او د انکشافي پروژو په ځانګړې کولو کې د هغو سیمو په پرتله چې بلوچان او شیعه ګان پکې اوسیږي تبعیضي چلند کوي. همداراز په دایکندي ولایت کې طالبانو ټولو موسسو ته امر کړی چې خپلې پروژې په «ګیزاب» ولسوالۍ کې پلې کړي، چې مخکې د دې ولسوالۍ ځینې برخې د دې ډلې د راټولېدو او نظامي فعالیت مرکزونه ؤ.

همدا راز، په بامیان ولایت کې هم په تېرو څلورو کلونو کې هیڅ د پام وړ انکشافي پروژه نه ده تطبیق شوې او په وروستیو کې طالبانو اعلان وکړ چې د دې ولایت د سربو او جستو کانونو څخه په لاسته راغلیو پیسو باندې د هیواد په نورو برخو کې د اوبو بند، سړک او روغتون جوړوي.

په پروان ولایت کې طالبانو ډېری انکشافي پروژې او بشرپالې مرستې شینواري او سیاه ګرد ولسوالیو ته ځانګړې کړې دي، چې د دې ولسوالیو ځینې برخې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سره د جګړې پر مهال د دې ډلې تر نفوذ لاندې وې. طابانن همدا راز په لعل و سرجنګل ولسوالۍ کې چې هزاره او شیعه وګړي پکې ژوند کوي، د ولایت په مرکز کې د رضاها سیمه او د غور ولایت په دولتیار ولسوالۍ کې چې ډېری اوسیدونکي یې تاجیکان دي، د انکشافي پروژو او پروګرامونو خنډ ګرځیدلي او هم یې دا سیمې په قصدي ډول له بشرپالو مرستو څخه لرې ساتلې دي.

په همدې حال کې، د غزني ولایت اوسیدونکي د بشرپالو مرستو له ناعادلانه وېش څخه شکایت لري. له دې ولایت څخه یو مرکه شوي ویلي چې: «د ۲۰۲۴ کال په اکتوبر میاشت کې طالبانو د ولایت له مرکز څخه د واغظ

ولسوالۍ کلیو ته د خوراکي موادو کڅوړې د وېش لپاره لېږلې وې. موږ د بلبل کلي په استازولۍ چې یوه هزاره مېشتې سیمه ده د ولسوالۍ مرکز ته ولاړو چې له دې مرستو څخه خپله برخه واخلو. خو د طالبانو پلاوي موږ ته وویل چې تاسو د جمهوریت په شلو کلونو کې ټولې مرستې وخوړې، څو کاله پربږدئ چې نور هم له دې مرستو څخه ګټه واخلي.»

د هیواد په نورو برخو کې هم طالبان هڅه کوي چې دولتي او بشردوستانه مرستې د خپلې ډلې اړوندو کسانو د ملاتړ لپاره وکاروي. په دې برخه کې له کندهار ولایت څخه د یو مرستندویه بنسټ مسئول ویلي چې تصمیم یې درلود هغو کورنیو او وګړو ته لومړنۍ مرستې وویشي چې هیواد ته راستانه شوي دي، خو کله چې یې د طالبانو له سیمه ییزو مسئولینو سره خبرې وکړې، هغوی د خپلو ۱۵۰ تنو لیست د دې مرستو ترلاسه کولو لپاره ور ولېږه.

## په ګمارنه کې توپیري چلند

د ټولو وګړو لپاره د کار د حق تضمین او د عادلانه کاري شرایطو برابرول، د کاري امنیت تامین او د قومي، ژبنیو او مذهبي ځانګړتیاوو پر بنسټ د دولتي کارکوونکو د استخدام او ګوښه کولو مخنیوی هغه اصول دي چې د بشر حقونو په بین المللي اسنادو کې راغلي دي.[32] سره له دې هغه کسان چې له بېلابېلو قومي او مذهبي ډلو څخه د طالبانو له فکر سره همغږي نه وي، او په ځانګړې ډول قومي او مذهبي اقلیتونه نشي کولای د طالبانو تر کنټرول لاندې په دولتي ادارو کې او په ځانګړي ډول د تصمیم نیونې په کچو کې وګمارل شي. حاکمې ډلې په تېرو څلورو کلونو کې په دې اقلیتونو پورې تړلي کارکوونکي په ډله ییز ډول له دولتي ادارو څخه شړلي دي او خپل کسان یې د قانوني شرایطو له رعایتولو پرته د دولتي ادارو په بېلابېلو برخو کې ګمارلي دي.

پر همدې بنسټ، طالبان د هغو کسانو ګمارلو ته لومړیتوب ورکوي چې په دې ډله کې د غړیتوب مخینه ولري او د دوی له فکر او ایډیولوژۍ سره همغږي وي. پر همدې دلیل، داوطلبان باید له استخدام وړاندې د استخباراتو ادارې له خوا تائید شي. لکه څنګه چې ترلاسه شوي شواهد ښیي چې د طالبانو د استخباراتو ادارې په کندهار ولایت کې هغه کسان چې په مخکني حکومت کې یې کار کړی، نه تائیدوي، او په ځینو مواردو کې حتا په غیر دولتي سازمانونو کې یې هم د دې کسانو د ګمارل کېدو مخه نیولې.

په تخار ولایت کې د دولتي کارکوونکو استخدام د حنفي مذهب او د طالبانو په ډله کې د غړیتوب پر بنسټ ترسره کیږي. په هرات کې طالبانو په قومي اقلیتونو پورې تړلي کارکوونکي چې د جمهوري حکومت پر مهال یې په دولتي ادارو کې دندې ترسره کولې، ګوښه کړي دي. د بدخشان ولایت په ۶ ولسوالیو کې چې ډېری اوسیدونکي یې د اسماعیلي مذهب پیروان دي، په دولتي ادارو کې یې یو تن هم حضور نه لري او په څلورو نورو ولسوالیو کې چې د دې اقلیت د پام وړ نفوس پکې ژوند کوي، په سیمه ییزو ادرو کې د دوی په استازولي هیڅ کس نشته.

په نیمروز ولایت کې، طالبانو له دولتي ادارو څخه د قومي او مذهبي لږکیو د اړوندو کسانو د تصفیې اقدام کړی او هغوی یې د فشار په واردولو او بېلابېلو پلمو ګوښه کېدو ته اړیستي دي. دا مهال د طالبانو د سیمه ییزې ادارې د تصمیم نیونې په کچه له قومي او مذهبي اقلیتونو څخه هیڅ کس نشته. په داسې حال کې چې له دې وړاندې، د ډېری دولتي ادارو مسئولین شیعه مذهبي ؤ، خو هیڅ یو یې اوس په دې پوستونو نه دی پاتې.

په دایکندي، بامیان او غزني ولایتونو کې هم طالبانو له سیمه ییزو ادارو څخه د هزاره ؤ د ډله ییزو ګوښه کولو اقدام کړی او د هغوی پر ځای یې د خپلې ډلې اړوند کسان ګمارلي دي. لکه، په غزني ولایت کې له هزاره ؤ څخه هیڅ کس د دولتي ادارو د ریاست او آمریت په پوست کې نشته. په دې ترتیب، په دایکندي ولایت کې هم د دې قومي ډلې اړوند کسان نشي کولای د دولتي ادارو د ریاست په پوست کې وګمارل شي.

**سربېره پر دې، ترلاسه شوي معلومات ښیي چې طالبانو په فاریاب ولایت کې د ازبکي ژبې او ادبیاتو فارغانو ته په ملکي بستونو کې د استخدام په آزموینه کې د ګډون اجازه نه ده ورکړې.**

## پر مذهبي آزادیو د محدودیت پلي کول

د هغه څه پر بنسټ چې د بشر حقونو په بین المللي اسنادو او تړونونو کې راغلي دي، مذهبي آزادي د دیني تعلیماتو او مراسمو په پلي کولو کې د عقیدې آزادي تضمینوي.[33] د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، د مذهب یا معتقداتو د څرګندولو آزادي، که په فردي توګه وي که په جمعي ډول، ښکاره وي که په پټه، او د عباداتو، آدابو، اعمالو او مذهبي تعلیماتو ترسره کول په رسمیت پېژندلي دي.[34] همدا راز، یادو اسنادو اعلان کړی چې په نژادي، قومي او دیني اقلیتونو پورې تړلي کسان حق لري په خصوصي یا عمومي ډول، په آزادانه توګه او له هر ډول مداخلې او تبعیض پرته له خپل ځانګړي فرهنګ څخه برخه مند اوسي، پر خپل دین اعتراف وکړي، عمل پرې وکړي او له خپلې ځانګړې ژبې څخه ګټه پورته کړي.[35] سره له دې، طالبان په پرله پسې توګه بېلابېل افکار او مذهبي عقاید ځپي او مذهبي آزادۍ یې د پام وړ محدودې کړې دي. لکه، په پوهنتونونو او ښوونځیو کې یې د جعفري فقهې تدریس منعه کړی او اوس له دې ډلې سره تړلیو زده کوونکو او محصلینو ته د حنفي فقهې زده کړه ورکوي. په بامیان، دایکندي، غزني او غور ولایتونو کې یې د جعفري فقهې ټول کتابونه له کتابتونونو، پوهنتونونو او ښوونځیو څخه ټول کړي دي.[36] د دې محدودیتونو پر دوام، طالبانو د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې افغانستان ته د شیعه ګانو د مذهبي کتابونو او د دعاګانو د کتابونو واردول منعه کړي دي.

د ۲۰۲۴ کال د ډسامبر پر ۵مه نېټه، طالبانو د غزني ولایت په جغتو ولسوالۍ کې د یو کتابتون د پرانستلو پر مهال کم تر کمه ۲۰ کتابونه چې د جعفري فقهې اړند ؤ له دې کتابتون څخه ټول کړل. هم مهاله، «د منعه شویو کتابونو د ارزونې او راټولولو کمېټه» چې د استخباراتو، اطلاعات و فرهنګ ادارو، علماوو شورا، د غزني ولایت پوهنتون او د احکامو او فرمانونو د تعقیب ریاست له استازو څخه جوړه ده، کم تر کمه ۱۱۰ عنوانه کتابونه یې د جعفري فقهې، سیاسي موضوعاتو، د ادیاتو تاریخ، فلسفې او تروریزم اړوند د یو خصوصي پوهنتون له کتابتون څخه ټول کړي او د اطلاعات و فرهنګ ریاست ته لېږدولي دي. یادې کمېټې د دې پوهنتون مسئولینو ته خبرداری ورکړ چې محصلینو باندې د دا ډول کتابونو د وېشلو او ساتلو څخه ډډه وکړي. همدا راز، د ممنوعه کتابونو د ارزونې او راټولولو کمېټې په جاغوري ولسوالۍ کې یوه عمومي کتابخانه وتړله او د حنفي فقهې درې جلده کتابونه یې د اهل تشیع پر جوماتونو ووېشل. د امربالمعروف ادارې د دې جوماتونو امامانو ته امر کړی چې د دې درې کتابونو محتوا خلکو ته تدریس کړي او دوه نیمې میاشتې وروسته ترې امتحان واخلي.

د ۲۰۲۴ کال د نوامبر پر ۴مه نېټه په غزني ولایت کې د طالبانو د امربالمعروف ادارې د دې ولایت له رسنیو او خبریالانو سره په یوه ناسته کې ویلي ؤ، چې د شیعه مذهب اړوند د ښوونیزو او پوهاوي ورکولو د پروګرامونو خپرول « د اسلامي امارت د اصولو خلاف» چاره ده او سیمه ییزې رسنۍ باید د اهل تشیع او سلفیانو د روحانیونو د خبرو او ویناوو له خپرولو ډډه وکړي.

د ۲۰۲۴ کال به بهیر کې طالبانو د شیعه ؤد مذهبي مناسکو پر اجرا لکه د «محرم» پر لمانځلو محدودیتونه وضعه کړي او عزادارانو ته یې له مسجدونو څخه د وتلو اجازه نه ده ورکړې. د غزني د والي معاون د شیعه ګانو د دې مذهبي مناسبت لمانځنه «بدعت» ګڼلې، چې په وینا یې باید په عمومي ځایونو کې ترسره نشي. سربېره پر دې، طالبانو په دې ولایت کې د شیعه ؤ یو شمېر زیارتونه تړلي دي او هغه یې «بدعت او د اسلامي شریعت خلاف» بللي دي.

په پکتیا ولایت کې طالبانو جعفري مذهب «ناروا او غیر اسلامي» بللی او پر همدې دلیل د سني مذهبه ښځو او نرانو واده له شیعه مذهبه ښځو او نرانو سره جایز نه ګڼې. په نیمروز ولایت کې هم طالبانو ویلي چې د سني مذهبه نجلۍ واده له شیعه مذهبه سړي سره جواز نه لري او که سني سړی له شیعه ښځې سره واده وکړي باک نه لري.

له بل پلوه، طالبانو د اسماعیلي او سلفي مذهبي اقلیتونو پر مذهبي مناسکو اجرا کولو هم پراخ محدودیتونه لګولي او په بېلابېلو پلو هغوی ځوروي.

## د مذهب بدلولو ته د اسماعیلي شیعه ؤ اړیستل او د حنفي فقهې ور زده کول

ترلاسه شوي شواهد او معلومات ښیي چې طالبانو په ۲۰۲۴ کال کې په بدخشان ولایت کې د اسماعیلي شیعه د مذهب بدلولو ته د اړیستلو لپاره سازمان شوې هڅې کړې دي او هغوی ته یې د حنفي فقهې د ورښودلو هڅه کړې. لکه، د ۲۰۲۴ کال په بهیر کې کم تر کمه ۱۰۰ تنه اسماعیلیان په دې ولایت کې د مذهب بدلون ته اړیستل شوي دي.

د طالبانو د امربالمعروف اداره په «زيباک، اشکاشم، شغنان، واخان، جرم، یمګان» ولسوالیو او د «نسي درواز» ولسوالی په ځينو برخو کې د اسماعیلي مذهبي پیروانو لپاره دینی مدرسې جوړې کړې دي، چې هلته ورته په زوره حنفي فقه تدریسوي. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ په هره دیني مدرسه کې د اسماعیلي شیعه کورنیو له ۱۰۰ څخه تر ۲۰۰ نجونې او هلکان زده کړه کوي. سربیره پر دې، طالبانو په شغنان او اشکاشم ولسوالیو کې د دې مذهب د پیروانو د جماعتونو یا مذهبي ځایونو جوړول منعه اعلان کړي دي.



## څلورمه برخه

# پایله او وړاندیزونه

## پایله

په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت په ۲۰۲۴ کال کې، هغو دلایلو ته په پام سره چې په دې راپور کې په وضاحت سره بیان شول په بېلابېلو برخو کې بدتر شوی دی. طالبانو له تاوتریخوالي په ډکو لارو چارو او وسیلو په کارولو د مخکني دولت له کارکوونکو او د دوی له مخالفو ډلو سره په همکارۍ تورنو کسانو څخه پر غچ اخستنې لاس پورې کړی، او هغوی یې په پراخه توګه په خپلسري ډول نیولي، شکنجه کړي، وژلي او تري تم کړي دي. خبریالان، مدني فعالان او د بشر حقونو مدافعین هم په دې موده کې تر فشارونو او زیاتېدونکو ځینو لاندې راغلي دي.

سربېره پر دې، د دې هیواد د ښځو او نجونو د ژوند شرایط د حاکمې ډلې د تبعیضي سیاستونو او اقداماتو له امله تر پخوا لا سخت شوي او په ځانګړي ډول «د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون» د پلي کولو لپاره د طالبانو هڅو بې عدالتي زیاته کړې او تعلیمي، روغتیایي او کاري خدمتونو ته په لاسرسي، آزاد تګ راتګ او له قانوني ملاتړونو څخه په برخه منېدو کې یې تبعیض لا سخت کړی دی.

قومي او مذهبي اقلیتونه هم دولتي خدمتونو، ملي فرصتونو او سرچینو ته له لاسرسي او د هیواد په عمومي چارو کې له ګډون څخه په قصدي او غیر منصفانه توګه محروم شوي دي. همدا راز، طالبانو د افغانستان پر خلکو د خپلې ایډیولوژۍ د تپلو په موخه مذهبي آزادۍ او فرهنګي رنګارنګي محدوده کړې ده. په دې کې په ۲۰۲۴ کال کې د مذهب بدلولو ته د اسماعیلي شیعه ؤ اړیستل او او د حنفي فقهي ښوونه له دې اقداماتو څخه یو، او په افغانستان کې د بشر حقونو خورا سخت نقض دی. دې شرایطو قومي او مذهبي ډلې له سختو تهدیدونو سره مخامخ کړې دي او له لومړنیو حقونو او آزادیو څخه یې محروم کړي دي.

له دې هر څه سره، شته ستونزو ته رسېدل، او په ځانګړي ډول په افغانستان کې د بشر حقونو د نقض مسئولین ځواب ویونکي کول، عملي اقداماتو او له بین المللي قضایي میکانیزمونواو نورو قانوني ابزارو څخه ګټې اخستنې ته اړتیا لري.

## وړاندیزونه

رواداري ننګونو او په افغانستان کې د بشر حقونو بحراني وضعیت څخه د مخنیوي په موخه لاندې موارد نړیوالې ټولنې او حاکمو چارواکو ته وړاندیزوي.

### حاکمو چارواکو ته:

- رواداري له حاکمو چارواکو غواړي چې د بشر حقونو په هغو بین المللي اسنادو کې د راغلیو مقرراتو اړوند، چې افغانستان ورسره تړلی دی، خپلو قانوني ژمنو ته په پام سره د افغانستان د خلکو د بشر حقونو د لا نور نقض څخه ډډه وکړي.
- له خپلو حقونو او آزادیو څخه د ښځو محروومول منفي او نه جبرانېدونکې پایلې لري او د هیواد سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې او فرهنګي پراختیا ته د ضرر رسېدو لامل ګرځي. پر همدې بنسټ، له حاکمو چارواکو غواړو چې د ښځو انساني آزادیو په درناوي او تضمینولو سره د ښځو پر وړاندې له خپلو توپیري سیاستونو څخه لاس واخلي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې د افغانستان د ماشومانو پر وړاندې د شته تهدیدونو د له منځه وړلو لپاره او په ځانګړې ډول د دې هیواد د ماشومانو د ژوند د ساتنې په موخه، د مخکنیو جګړو د پاتې شویو چاودېدونکو توکو څخه د ککړو سیمو د پاکولو لپاره عملي اقدامات وکړي او په دې برخه کې له بین المللي سازمانونو سره همکاري وکړي.
- له حاکمو چارواکو غوښتنه کیږي چې د مخکني حکومت کارکوونکو، د بشر حقونو مدافعینو، خپلو مخالفینو او منتقدینو پر وړاندې له تاوتریخوالي د ډکو غچ اخستنو مخه ونیسي او د دوی د امنیت د ساتلو او خوندیتابه لپاره تدابیر ونیسي.
- د بشر حقونو د بین المللي اسنادو پر بنسټ، شکنجه کول او ناوړه چلندونه او په ځانګړې ډول د بندیانو وژل د جنایت او د بشر حقونو د نقض ښکاره مصداقونه ګڼل کیږي. پر همدې بنسټ، له حاکمو چارواکو غواړو چې دې وضعیت ته د پای ورکولو تر څنګ، د زندانونو د وضعیت د څارنې په برخه کې له حقوق بشري سازمانونو سره همکاري وکړي.
- له حاکمو چارواکو غواړو چې د ضرر منونکو قومي او مذهبي ډلو پر وړاندې خپلو تبعیضي سیاستونو ته د پای ټکی کیږدي او د افغانستان د ټولو خلکو حقونو ته درناوی وکړي.
- د دُرو وهلو سزا چې ډېری مهال د تکمیلي سزا په توګه پلې کیږي، نه یواځې د قرباني د کرامت او انساني حیثیت د نقض سبب کیږي، بلکې د هغوی کورني ځای ځایګي او اعتبار ته هم زیان اړوي. پر همدې بنسټ، د طالبانو له محکمو غوښتنه کیږي چې د ټولو وګړو د انساني کرامت حق ته د درناوي تر څنګ د بدني سزاګانو ورکولو څخه جداً ډډه وکړي.

## نړیوالې ټولنې ته:

- په افغانستان کې د بشر حقونو د پراخ او سیستماتیک نقض د درولو لپاره لازمه ده چې د معافیت فرهنګ په بشپړه توګه له منځه لاړ شي او طالبان د خپلو اعمالو له امله ځواب ورکوونکي شي. د همدې له مخې، له نړیوالې ټولنې غواړو چې د بین المللي میکانیزمونو په چوکاټ کې، د ملګرو ملتونو سازمان د بشر حقونو د شورا، د جزا بین المللي محکمې، د عدالت بین المللي محکمې او نورو قانوني ابزارو او د حساب ورکونې د میکانیزمونو څخه د طالبانو ځواب ورکوونکي کولو لپاره کار واخلي او د افغانستان د خلکو د بشري حقونو د نقض د پای ته رسولو لپاره عملي او اغېزناک اقدامات ترسره شي.
- له نړیوالې ټولنې غواړو چې د مخکني حکومت د کارکوونکو او د هغوی د کورنیو د امنیت د تامین او خوندیتوب لپاره چې د غچ اخستونکو او له تاوتریخوالي ډکو بریدونو سره مخامخ دي، حاکمو چارواکو باندې فشار راوړي او د قربانیانو د کورنیو لپاره د شکایتونو د ثبت زمینې برابرې کړي.
- د ملګرو ملتونو سازمان څخه غواړو چې د دې سازمان د منشور په چوکاټ کې او نورو بین المللي اسنادو ته په پام سره، د افغانستان مسئلې سره په چلند کې، د بشر حقونه او د ښځو او قومي او مذهبي اقلیتونو انساني آزادۍ د خپلو تصمیم نیونو په لومړیتوب کې راولي.
- له ملګرو ملتونو سازمان څخه همدا راز غواړو چې د طالبانو تر کنټرول لاندې د زندانونو د وضعیت په اړه او په ځانګړې ډول د آزادۍ د سلب د ځایونو اړوند، د بندیانو د شکنجه کولو او وژلو قضیې په هر اړخیز ډول وڅیړي او خپلې موندنې د افغانستان له خلکو، رسنیو او د بشر حقونو له سازمانونو سره شریکې کړي.
- د بشري حقونو د بنسټونو او ملي او بین المللي رسنیو غواړو چې د اوسني فاجعه زیږوونکي وضعیت ابعادو منعکسولو، څارنې، او په افغانستان کې د بشر حقونو د نقض اړوند شواهدو راټولولو او ساتلو ته لا ډېره پاملرنه وکړي، او په تلپاتې هماهنګۍ او همغږۍ کې شته ننګونو ته د رسېدنې لپاره عدالت غوښتنه وکړي.

1 کابل، پروان، کاپیسا، بغلان، پنجشېر، بلخ، سرپل، فاریاب، جوزجان، تخار، کندوز، سمنگان، بدخشان، هرات، بادغیس، فراه، نیمروز، غور،غزني، دایکندي، بامیان، میدان وردگ، پکتیا، پکتیکا، خوست، ننگرهار، کندهار، زابل، هلمند او ارزګان.

2 هماغه سرچینه، ۵ ص،

3 هماغه سرچینه، ص ۶.

4 د ملګرو ملتونو سازمان د ماشومانو د ملاتړ صندوق (یونیسف)، (د ۲۰۲۵ کال د جنوري ۵مه). https://x.com/unicefafg/status/1875794061669671056?s=12

5 رواداري، «د حذف او ځپنې دوام، په ۲۰۲۳ کال کې د بشر حقونو وضعیت»، ص ۶.

6 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د اجباري تري تم کولو پر وړاندې د ټولو خلکو د ملاتړ بین المللي کنوانسیون، د ۲۰۱۰ کال تصویب شوی، ۲مه ماده، د جزایي بین المللي محکمې اساسنامه، د ۱۹۹۸ کال تصویب شوې، ۷مه ماده، (۲) (i).

7 هماغه سرچینه، ۷مه ماده (۱)، (i).

8 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د شکنجې او نورو ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکو چلندونو د مخنیوي بین المللي کنوانسیون.

9 غور، هرات، بامیان، کندهار، فراه، بدخشان، تخار، بغلان، بادغیس او غزني.

10 رواداري، د حذف او ځپنې دوام، په ۲۰۲۳ کال کې د بشر حقونو د وضعیت ریوټ، ص ۱۰، آگست ۲۰۲۳. https://rawadari.org/wp-content/RW_AFGHumanRights2023_Dari.pdf/08/uploads/2023

11 هماغه سرچینه، ص ۱۱.

12 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې. ۹مه ماده.

د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، لومړی بند، ۹مه ماده.

13 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، مقدمه او لومړۍ ماده.

14 د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د شکنجې او نورو ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکو چلندونو او مجازاتو د مخنیوي بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۸۷ کال تصویب وی، لومړۍ ماده.

د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، ۷مه ماده.

15 رواداري، «د حذف او ځپنې دوام، په ۲۰۲۳ کال کې د بشر حقونو د وضعیت ریوټ»، ۱۶ ص، https://rawadari.org/020320241752.htm/

16 د ملګرو ملتونو سازمان مرستیال پلاوی (یوناما)، ۲۰۲۴ کال د اکتوبر ۱۰مه. https://unama.unmissions.org/unama-welcomes-de-facto-prison-authority-commitment-improve-conditions-detainees-and-ensuring

17 د بشر حقونو ځانګړی ریوټر، په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت، ۶ ص (۲۰۲۴ د اګست ۳۰مه)، https://www.ohchr.org/sites/default/unofficial-dari-translation-sr-afghanistan-ga79-report.pdf/11-files/2024

18 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، ۲۶مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، ۱۳مه ماده.

19 رواداري، محرومیت او تبعیض: په افغانستان کې تعلیم ته د ښځو او نجونو د لاسرسي وضعیت، ص ۷، ۲۰۲۴ نوامبر. https://rawadari.org/201120241925.htm/

20 رواداري، په افانستان کې د طبي علومو په موسسو کې د ښځو او نجونو د تحصیل د مخنیوي اړند مطبوعاتي اعلامیه، ۲۰۲۴ کال ډسامبر ۳مه. https://rawadari.org/031220241936.htm/

21 د ملګرو ملتونو سازمان عموي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، ۲۳مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، ۶مه او ۷مه ماده.

22 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، ۲۵مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، ۱۲مه ماده.

23 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، ۱۲مه ماده، ۱۹۶۶ کال د ډسامبر ۱۶مه.

24 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، ښځو سره د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون، ۱۵مه ماده، ۱۹۷۹ د ډسامبر ۱۸مه.

25 د ملګرو ملتونو سازمان مرستیال پلاوی (یوناما)، په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت، ۳ ص، (۲۰۲۴ اکتوبر – ډسامبر)، https://unama.unmissions.org/sites/default/files/human_rights_situation_in_afghanistan_october_-_december_2024_-_dari.pdf

26 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، ۱۴مه ماده، ۱۹۶۶ د سامبر ۱۶مه.

27 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، ښځو سره د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون، ۱۵مه ماده، ۱۹۷۹ د ډسامبر ۱۸مه.

28 د بشر حقونو د څار سازمان، د افغانستان د هزاره ګانو ټولنه ساتنې ته اړتیا لري، ۲۰۲۴ د سپتامبر ۱۳مه. https://www.hrw.org/news/2024/13/09/afghanistans-hazara-community-needs-protection

29 هشت صبح ورځپاڼه، د طالبانو دعوا: په سرپل کې مو د داعش ډلې شپږ غړي ونیول، ۲۰۲۵ کال د جنوري ۲۲مه. https://8am.media/fa/taliban-

/claims-we-have-arrested-six-members-of-isis-group-in-sarpul

30 د ملګرو ملتونو سازمان مرستیال پلاوی (یوناما)، په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت، ص ۴، (۲۰۲۴ اکتوبر- ډسامبر)، https://unama.unmissions.org/sites/default/files/human_rights_situation_in_afghanistan_october_-_december_2024_-_dari.pdf

31 د ملګرو ملتونو سازمان منشور، د ۱۹۴۵ کال تصویب شوی، ۳ بند، ۱ماده، ج بند، ۵۵ ماده او ۹ بند ۳مه ماده. د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، ۱بند او ۲ بند، ۲مه ماده.

32 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال د ډسامبر پر ۱۰ مه تصویب شوې، ۲۳مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال د ډسامبر پر ۱۶مه تصویب شوی، ۶، ۷، او ۸ مادې.

33 د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸ کال تصویب شوې، ۷مه ماده.

34 د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون، د ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، ۱۸مه ماده.

35 هماغه سرچینه، ۱ماده ۲۷.

36 رواداري، محرومیت او تبعیض: تعلیم ته د نجونو او ښځو د لاسرسي وضعیت، ۲۸ ص، نوامبر ۲۰۲۴ . https://rawadari.org/201120241925.htm/

رواداری

RAWADARI